# د لیویانو کِتاب ـ د تورات شریف درېم کِتاب

## پېژندګلو

د لیویانو کِتاب د تورات درېم کِتاب دے. دا د انسان د رهنمايۍ په حقله د حضرت موسیٰ علیه السلام په وسیله لیکلے شوے دے او په دې کښې د عبادت او پرهیزګاره ژوند تېرولو په حقله د خُدائ پاک تعلیمات موجود دی. د لیویانو په کِتاب کښې د ژوند د طور طریقو، خوراک څښاک، د عبادت د هدایاتو او د مذهبی رواجونو په تفصیل سره ذکر شوے دے. دا ځکه چې زمونږ د ژوند هره برخه کۀ هغه اخلاقی، جسمانی یا روحانی وی هغه د خُدائ پاک په نظر کښې ډېر اهمیت لری. په دې کښې بنیادی پېغام دا دے چې خُدائ پاک په خپله مقدس دے او هغه دا غواړی چې د هغۀ مخلوق دې هم مقدس وی. په دې کِتاب کښې مونږ دا هم مطالعه کوُو چې خُدائ پاک په خپله د وینې د تویدلو په وسیلې سره د ګناهونو فدیه مهیا کوی. د ګناه د پاکولو شرط قربانی ده ولې چې د مرګ په بدل کښې مرګ دے. د حفظ کولو دپاره د لیوی ۲۶:۲۰ آیت، ”تاسو به مقدس شئ او صِرف زما به شئ، ځکه چې زۀ مالِک خُدائ یم او زۀ مقدس یم. ما تاسو د نورو قومونو نه جدا کړی يئ چې تاسو صِرف زما اوسئ.“

## سوزېدونکې نذرانه

١ ⑴ مالِک خُدائ د خپلې حضورۍ د خېمې نه موسیٰ ته آواز وکړو او دا اصُول يې
ورته وښودل. ⑵ هر کله چې اِسرائیلیان خپلې قربانۍ پېش کوی نو دا اصُول به یاد

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ساتی، چې کله يو کس د يو ځناور قربانی پېش کوی، نو هغه به د سوزېدونکې نذرانې
دپاره ګډ يا چېلے راولی. ۳ کۀ هغه خپل څاروے د سوزېدونکې نذرانې په توګه پېش
کوی، نو هغه دې د رمې نه يو نر څاروے راولی چې هيڅ عېب په کښې نۀ وی. هغه دې
دا د مالِک خُدائ د حضور مقدسې خېمې د دروازې په خولۀ کښې حاضر کړی، نو
مالِک خُدائ به دا قبول کړی. ۴ هغه کس به خپل لاس ورله په سر کېږدی او دا به
ترې نه په قربانئ کښې قبول کړے شی او دا به د هغۀ دپاره کفاره شی. ۵ هغه به هلته
غويے حلال کړی او د هارون د خاندان اِمامان به مالِک خُدائ ته هغه وينه پېش کړی او
چې د خېمې د دروازې په خولۀ کښې کومه قربان‌ګاه ده د هغې څلورو واړو طرفونو ته
دې وشيندی. ۶ بيا به د هغه ځناور نه څرمن وباسی او حِصې حِصې به يې کړی، ۷
او اِمامان به په قربان‌ګاه باندې لرګی سم کېږدی او په لرګو به اور بل کړی. ۸ هغوئ
به د ځناور حِصې، سره د سر او وازګې په اور باندې کېږدی. ۹ د هغه ځناور کولمې
او پتُونان دې ووينځلے شی او اِمام به دا هر څۀ په قربان‌ګاه باندې وسوزوی، ځکه چې
په اور سوزېدونکې د دې نذرانې خوشبو په مالِک خُدائ باندې ښۀ لګی. ۱۰ کۀ هغه
کس د ګډو يا د چېلو د رَمې نه څۀ پېش کوی، نو هغه دې خامخا نر وی چې هيڅ عېب
په کښې نۀ وی. ۱۱ هغه به دا د قربان‌ګاه په شمالی طرف حلالوی او د هغې وينه به
اِمامان د قربان‌ګاه څلورو واړو طرفونو ته وشيندی. ۱۲ چې کله هغه کس دا حِصې
حِصې کړی، نو اِمامان به د دې ټولې حِصې سره د سر او وازګې په اور باندې کېږدی.
۱۳ هغه کس به د دې کولمې او پتُونان په اوبو ووينځی او اِمام به دا قربانی مالِک
خُدائ ته پېش کړی او په قربان‌ګاه باندې به يې ټوله وسوزوی. په اور سوزېدونکې د دې
نذرانې خوشبو په مالِک خُدائ باندې ښۀ لګی. ۱۴ کۀ څوک يو مارغۀ د سوزېدونکې
نذرانې په توګه پېش کوی، نو هغه دې يوه ګوګوشتکه يا کونتره وی. ۱۵ اِمام به دا په
قربان‌ګاه باندې پېش کړی، د هغې څټ به تاو کړی او سر به يې په قربان‌ګاه باندې
وسوزوی او د هغې وينه دې د قربان‌ګاه په اړخ باندې وڅڅولے شی. ۱۶ هغه دې د دې
ججُوره او په ججُوره کښې چې څۀ وی هغه دې لرې کړی او دا دې د قربان‌ګاه نمرخاتۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

طرف ته وغورزوی چرته چې ایرې اچولے شی. ۱۷ هغه دې دا مارغۀ د وزرو نه
ونیسی او داسې دې په مینځ دوه ټوټې شی چې وزر ترې نه بېل نۀ شی. او هغه دې دا ټول
په قربانګاه باندې وسوزوی، په اور سوزېدونکې د دې نذرانې خوشبو په مالِک خُدائ
باندې ښۀ لګی.

## د غلې نذرانې

۲ ۱ کله چې څوک مالِک خُدائ ته یوه د غلې نذرانه پېش کوی، نو هغه دې ښۀ اوړۀ
وی. د زيتُونو تېل او خوشبودار لوبان دې په کښې واچوی، ۲ د هارون د خاندان
اِمامانو له دې راوړی. اِمام به یو موټے د اوړو، د تېلو او سره د ټولو لوبانو نه راواخلی
او په قربانګاه به یې وسوزوی، دا یوه داسې نذرانه ده چې خوشبو یې په مالِک خُدائ
باندې ښۀ لګی. ۳ د غلې د نذرانې نه پاتې شوې برخه به د اِمامانو وی، دا به ډېره
مقدسه ګڼلے شی، ځکه چې دا مالِک خُدائ ته په اور سوزېدونکې نذرانې نه اخستے
شوې ده. ۴ کۀ دا نذرانه روټۍ وی چې په تنور کښې پخه شوې وی، نو دا دې د
خمبیرې نه بغیر تیاره شوې وی. دا دې د اوړو نه تیارې شوې غټې روټۍ وی چې د
زيتُونو تېل په کښې ګډ وی یا دې نرۍ نرۍ روټۍ وی چې د زيتُونو تېل ورباندې لګولے
شوی وی. ۵ کۀ هغه نذرانه روټۍ وی چې په تبخی باندې پخه شوې وی، دا به د داسې
اوړو نه تیاره شوې وی چې د زيتُونو تېل په کښې ګډ وی خو چې خمبیره په کښې نۀ
وی. ۶ چې کله یې د یوې نذرانې په توګه پېش کوئ نو دا چُوری کړئ او نور تېل
وربانديې واچوئ. ۷ کۀ هغه نذرانه داسې روټۍ وی چې په تبخی باندې پخه شوې وی،
نو هغه دې د اوړو او زيتُونو د تېلو نه تیاره شوې وی. ۸ دا مالِک خُدائ ته د غلې
نذرانې په توګه راوړئ او اِمام ته یې پېش کړئ او هغه به یې قربانګاه ته یوسی. ۹ اِمام
به د نښې په توګه یوه برخه ترې نه واخلی چې دا ټوله مالِک خُدائ ته پېش کړے شوې
ده او هغه به دا په قربانګاه باندې وسوزوی. په اور سوزېدونکې د دې نذرانې خوشبو په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مالِک خُدائ باندې ښۀ لګی. (۱۰) د غلې د نذرانې نه پاتې شوې برخه به د اِمامانو وی، دا
به ډېره مقدسه ګڼلے شی، ځکه چې دا مالِک خُدائ ته په اور باندې سوزېدونکې نذرانې
نه اخستے شوې ده. (۱۱) چې د غلې کومې نذرانې تاسو مالِک خُدائ ته پېش کوئ په
يوه نذرانه کښې دې هم خمبيره نۀ وی، مالِک خُدائ ته په اور سوزېدونکې نذرانه کښې
چې کله هم خمبيره يا شات وانۀ چوئ. (۱۲) تاسو چې هر کال لَو کوئ نو د خپل فصل
وړومبۍ غله مالِک خُدائ ته راوړئ، خو دا دې په قربانګاه باندې نۀ شی سوزولے. (۱۳)
د غلې په هره نذرانه باندې مالګه اچوئ، ځکه چې مالګه د خُدائ پاک او ستاسو په مينځ
کښې د لوظ نښه ده. (تاسو په خپلو ټولو نذرانو خامخا مالګه اچوئ.) (۱۴) چې کله تاسو
د خپل رېبلے شوی فصل د وړومبۍ غلې نذرانه مالِک خُدائ ته راوړئ، نو وريتې شوې
دانې يا مېده شوی اوړۀ ورته پېش کوئ. (۱۵) د زيتُونو تېل په کښې ورګډ کړئ او لوبان
وربادې واچوئ. (۱۶) اِمام به لږ اوړۀ او څۀ تېل او ورسره ټول لوبان هم وسوزی او دا
به مالِک خُدائ ته په اور سوزېدونکې نذرانې د نښې په توګه وی.

## د سلامتۍ نذرانې

۳ (۱) کله چې څوک خپل يو څاروے د سلامتۍ د نذرانې په توګه پېش کوی، نو هغه
دې يو داسې غوَيے يا غوا وی چې هيڅ عيب په کښې نۀ وی. (۲) هغه کس به خپل لاس
د هغه ځناور په سر کېږدی او د مالِک خُدائ د حضور مقدسې خيمې د دروازې په خولۀ
کښې به يې حلال کړی. د هارون د خاندان اِمامان به هغه وينه د قربانګاه څلورو واړو
طرفونو ته وشيندی (۳) او هغه دې د هغه ځناور دا حِصې مالِک خُدائ ته په اور
سوزېدونکې نذرانې په توګه پېش کړی. په دې کښې به په کولمو باندې ټوله وازګه، (۴)
پښتورګی او په هغې باندې چې څومره وازګه وی او د اينې ښۀ حِصه هم وی. (۵)
اِمامان به دا هر څۀ د سوزېدونکې نذرانو سره په قربانګاه باندې وسوزوی. په اور
سوزېدونکې د دې نذرانې خوشبو به مالِک خُدائ باندې ښۀ لګی. (۶) کۀ چرې د رَمې نه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د سلامتۍ د نذرانې په توګه څۀ پېش کولے شى، کۀ هغه نر وى يا ښځه، خو چې هيڅ
عيب په کښې نۀ وى. ۷ کۀ يو کس يو ګډُورے پېش کوى، ۸ نو هغه دې خپل لاس
ورله په سر کېږدى او د خېمې مخې ته دې هغه حلال کړى. اِمامان به د هغۀ وينه د
قربانګاه په څلورو واړو طرفونو باندې وشيندى ۹ او مالِک خُدائ ته دې د هغه
څناور دا حِصې په اور سوزېدونکې نذرانې په توګه پېش کړى يعنې د ټول لم وازګه چې د
ملا د هډُوکى سره نزدې پرې کړے شوې وى، هغه ټوله وازګه چې په کولمو پرته وى،
۱۰ پښتورګى او هغه وازګه چې ورباندې پرته وى او د اينې ښۀ حِصه هم. ۱۱ بيا به
اِمام دا هر څۀ په اور سوزېدونکې نذرانې په توګه مالِک خُدائ ته وسوزوى. ۱۲ کۀ يو
کس چېلۍ پېش کوى، ۱۳ هغه دې خپل لاس ورله په سر کېږدى او د خېمې مخې ته دې
حلاله کړى. اِمامان به د دې وينه د قربانګاه په څلورو واړو طرفونو باندې وشيندى ۱۴
او مالِک خُدائ ته دې دا حِصې په اور سوزېدونکې نذرانې په توګه پېش کړى يعنې هغه
ټوله وازګه چې په کولمو باندې پرته وى، ۱۵ پښتورګى او هغه وازګه چې ورباندې پرته
وى او د اينې ښۀ حِصه هم. ۱۶ اِمام به دا هر څۀ په اور سوزېدونکې نذرانې په توګه
وسوزوى، دا به په مالِک خُدائ باندې يو ښۀ لګېدونکے بوئ وى. د قربانۍ ټوله وازګه د
مالِک خُدائ ده. ۱۷ يو بنى اِسرائيلے به هم وازګه او وينه نۀ شى خوړلے، بنى اِسرائيل
چې چرته هم اوسيږى نو ټول به دا قانون د تل دپاره منى.

## په غلطۍ سره د شوو ګناهونو دپاره نذرانې

**۴** ۱ مالِک خُدائ موسىٰ ته حُکم وکړو ۲ چې بنى اِسرائيلو ته ووايه چې کۀ څوک
ګناه وکړى او په غلطۍ سره د مالِک خُدائ حُکمونه مات کړى، نو هغه به دا قانون منى.
۳ کۀ چرې مشر اِمام ګناه وکړى او د هغې په ذريعه خلق ګناهګار شى، نو هغه به يو
سخے پېش کوى چې هيڅ عيب په کښې نۀ وى او د خپلې ګناه دپاره به يې مالِک خُدائ
ته قربانى کړى. ۴ هغه به سخے د مقدسې خېمې دروازې خولې ته راولى، او په سر به

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورته خپل لاس کېږدی، او د مالِک خُدائ په حضور کښې به يې هلته حلال کړی. ۵
بيا به مشر اِمام د سخی لړه وينه واخلی او خېمې ته به يې دننه يوسی. ۶ هغه به خپله
ګوته په وينه کښې ډُوبه کړی او دا دې اووهٔ ځله د مقدسې پردې مخې ته وشيندی. ۷
بيا به هغه لړه وينه په خېمه کښې د خوشبويۍ د قربانګاه په ښکرو باندې ولګوی. هغه به
پاتې شوې وينه د سوزېدونکې نذرانو قربانګاه په بيخ کښې توئ کړی، کومه چې د خېمې
د دروازې په خولهٔ کښې ده. ۸ هغه به د دې سخی نه ټوله وازګه واخلی، هغه وازګه
کومه چې په کولمو باندې وی، ۹ پښتورګی او کومه وازګه چې وربانديې پرته وی او د
اينې ښهٔ حِصه. ۱۰ اِمام به دا وازګه واخلی او د سوزېدونکې نذرانو په قربانګاه باندې
به يې وسوزوی، هم هغه شان لکه چې کوم عمل د سلامتۍ د نذرانې دپاره حلال شوی
ځناور وازګې سره کوی. ۱۱ خو هغه به د دې خرمن، ټوله غوښه، سر، پښې، دننی
اندامونه سره د کولمو، ۱۲ دا هر څهٔ به د خېمو نه بهر هغه پاک ځائ ته يوسی چرته
چې ايره غورزولے کيږی، نو هلته دې يې هغه د لرګو په اور باندې وسوزوی. ۱۳ که
چرې د اِسرائيلو ټول قوم ګناه وکړی او په غلطۍ سره د مالِک خُدائ د حُکمونو نه د يو
حُکم ماتولو په وجه ګناهګار شی، ۱۴ بيا چې څنګه د ګناه پته ورته ولګی، نو قوم به د
ګناه د نذرانې په توګه يو سخے راولی. هغوئ به دا د مالِک خُدائ د حضور مقدسې
خېمې ته راولی، ۱۵ د قوم مشران به د دې په سر خپل لاسونه کېږدی او سخے دې
هلته حلال کړے شی. ۱۶ مشر اِمام به د سخی لړه وينه واخلی او خېمې ته به يې دننه
يوسی، ۱۷ خپله ګوته دې په وينه کښې ډُوبه کړی او هغه دې اووهٔ ځله د مالِک خُدائ
په حضور کښې د پردې په مخکښې وشيندی. ۱۸ هغه به لړه وينه د خوشبويۍ د
قربانګاه په ښکرونو پورې ولګوی چې دا د مالِک خُدائ په حضور کښې دننه په خېمه
کښې ده او پاتې شوې وينه دې د سوزېدونکې نذرانې د قربانګاه په بيخ کښې توئ کړی،
کومه چې د خېمې د دروازې په خولهٔ کښې ده. ۱۹ بيا به هغه د سخی ټوله وازګه
واخلی او په قربانګاه به يې وسوزوی. ۲۰ هغه به د دې سخی سره هم هغه شان وکړی
لکه څنګه چې هغهٔ د ګناه د نذرانې د سخی سره کړی وُو، نو داسې به اِمام د خلقو د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ګناه دپاره کفاره ادا کړی او هغوئ به معاف شی. ۲۱ بیا به هغه سخے د خیمو نه بهر
یوسی او وبه یې سوزوی، لکه څنګه چې هغه د خپلې ګناه دپاره پېش کړے شوے
سخے سوزوی. دا نذرانه د قوم د ګناه د کفارې دپاره ده. ۲۲ کۀ یو مشر ګناه وکړی او
په غلطۍ سره د مالِک خُدائ د حُکمونو نه د یو حُکم ماتولو په وجه ګناهګار شی، ۲۳
او چې د خپلې ګناه پته ورته ولګی، نو هغه به د خپلې نذرانې په توګه یو چېلے راولی چې
هیڅ عیب په کښې نۀ وی. ۲۴ هغه به خپل لاس د چېلی په سر کېږدی او د قربانګاه
هغه طرف ته به یې حلال کړی، چرته چې د سوزېدونکې نذرانې ځناور حلالولے شی. دا
د ګناه د لرې کولو نذرانه ده. ۲۵ اِمام به خپله ګوته د ځناور په وینه کښې ډُوبه کړی،
دا دې د قربانګاه په ښکرونو پورې ولګوی او پاتې شوې وینه دې د قربانګاه په بېخ
کښې توئ کړی. ۲۶ بیا به هغه د دې ټوله وازګه په قربانګاه باندې وسوزوی، لکه څنګه
چې هغه د سلامتۍ د نذرانې دپاره حلال شوی ځناور وازګه سوزوی. داسې به اِمام د
هغه مشر دپاره د ګناه کفاره ادا کړی او هغه به معاف شی. ۲۷ کۀ یو عام کس ګناه
وکړی او په غلطۍ سره د مالِک خُدائ د حُکمونو نه د یو حُکم ماتولو په وجه ګناهګار
شی، ۲۸ نو چې څنګه د ګناه پته ورته ولګی، نو هغه به د خپلې نذرانې په توګه یوه چېلۍ
راولی چې هیڅ عیب په کښې نۀ وی. ۲۹ هغه به خپل لاس د دې په سر کېږدی او د
قربانګاه په هغه طرف به یې حلاله کړی، چرته چې د سوزېدونکې نذرانې دپاره ځناور
حلالېږی. ۳۰ اِمام به خپله ګوته د دې ځناور په وینه کښې ډُوبه کړی، دا به د قربانګاه
په ښکرونو پورې ولګوی او پاتې شوې وینه به د قربانګاه په بېخ کښې توئ کړی. ۳۱
بیا به هغه ټوله وازګه ترې نه لرې کړی، لکه څنګه چې د سلامتۍ د نذرانې دپاره حلال
شوی ځناور نه لرې کولے شی او هغه به دا په قربانګاه باندې وسوزوی ځکه چې په
مالِک خُدائ دا خوشبو ښۀ لګی. نو داسې به اِمام د هغه کس د ګناه کفاره ادا کړی او
هغه به معاف شی. ۳۲ کۀ یو کس د ګناه د نذرانې دپاره د ګډو نه څۀ راولی، نو هغه دې
یوه ګډه وی چې هیڅ عیب په کښې نۀ وی. ۳۳ هغه به خپل لاس د دې په سر کېږدی او
د قربانګاه په هغه طرف به یې حلاله کړی، چرته چې د سوزېدونکې نذرانې دپاره ځناور

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حلالیږی. ۳۴ اِمام به خپله ګوته د څناور په وینه کښې ډُوبه کړی، د قربان‌ګاه په ښکرونو پورې دې دا وینه ولګوی او پاتې شوې وینه به هغه د دې په بېخ کښې توئ کړی.
۳۵ بیا به هغه د دې ټوله وازګه لرې کړی، لکه څنګه چې د سلامتیٔ د نذرانې دپاره حلال شوی څناور نه وازګه لرې کیږی او هغه به په اور سوزېدونکې نذرانو سره په قربان‌ګاه باندې وسوزوی کوم چې مالِک خُدائ ته پېش کیږی. داسې به اِمام د هغه کس د ګناه دپاره کفاره ادا کړی او هغه به معاف شی.

## د ګناه د نذرانو ورکولو حالاتونه

**۵** ۱ په دې حالاتو کښې د ګناه نذرانې ضروری ګڼلے کیږی. کهٔ څوک د ګواهیٔ ورکولو دپاره عدالت ته وغوښتلے شی او هغه معلومات نهٔ ورکوی چې څهٔ یې لیدلی یا اورېدلی وی، نو هغهٔ ته دې د خپلو بدو سزا مِلاو شی. ۲ کهٔ څوک په غلطیٔ سره یو حرام څیز له لاس وروړی، لکه چې یو مړ مردار څناور له، نو هغه ناپاک او ګناهګار دے چې څنګه ورته پته ولګی چې هغهٔ دا خطا کړې ده. ۳ کهٔ څوک په غلطیٔ سره د انسان یو ناپاک ځائ یا څیز له لاس وروړی، خو چې څنګه ورته پته ولګی چې هغهٔ دا خطا کړې ده نو هغه په دې سره ناپاکه او ګناه ګار دے. ۴ کهٔ څوک بغیر د سوچ کولو نه قسم وخوری، چې دا قسم د هر څیز په حقله وی کهٔ قسم ښهٔ وی او یا بد وی، نو هغه ناپاکه او ګناهګار دے چې څنګه ورته پته ولګی چې هغهٔ څهٔ کړی دی. ۵ کله چې یو کس ګناه وکړی، نو هغه دې خامخا د ګناه اِقرار وکړی، ۶ او د خپلې ګناه په جرمانه کښې به هغه خامخا یوه ګډه یا چېلیٔ مالِک خُدائ ته د نذرانې په توګه راولی. اِمام به د هغه کس د ګناه دپاره کفاره ادا کړی. ۷ کهٔ هغه کس ګډه یا چېلیٔ نهٔ شی اخستلے، نو هغه به د خپلې ګناه په بدل کښې دوه ګوګوشتکې یا دوه کونترې راوړی، یوه به د ګناه د نذرانې دپاره او بله به د سوزېدونکې نذرانې دپاره وی. ۸ هغه به دا اِمام له راوړی، نو وړومبیٔ به مارغهٔ د ګناه د نذرانې دپاره پېش کړی. د دې څټ به تاو کړی خو چې سر

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ترېږي نه بېل نهٔ شي ۹ او څهٔ وينه دې د قربان‌ګاه په يو طرف باندې وشيندی، پاتې
شوې وينه دې د قربان‌ګاه په بېخ کښې وڅڅولے شی. دا د ګناه د لرې کولو دپاره يوه
نذرانه ده. ۱۰ بيا د اصُولو په مطابق هغه دوېم مارغهٔ دې د سوزېدونکې نذرانې په توګه
پېش کړی. داسې به اِمام د هغه کس د ګناه دپاره کفاره ادا کړی کومه چې هغهٔ کړې ده
او هغه به معاف شی. ۱۱ کهٔ هغه کس دوه ګوګوشتکې يا دوه کونترې هم نهٔ شی
راوړلے، نو هغه به يو کلو اوړهٔ د ګناه د نذرانې په توګه راوړی. هغه دې په دې کښې د
زيتُونو تېل يا خوشبوئی نهٔ اچوی، ځکه چې دا د ګناه نذرانه ده. ۱۲ هغه کس به دا اِمام
له راوړی، اِمام به يو موټے ترې نه د نښې په توګه واخلی چې دا ټول مالِک خُدائ ته
پېش کړے شوی دی او په اور سوزېدونکې نذرانې سره به يې په قربان‌ګاه باندې
وسوزوی. دا يوه داسې نذرانه ده چې ګناه لرې کوی. ۱۳ داسې به اِمام د هغه کس د
ګناه دپاره کفاره ادا کړی چې په دې مختلفو ګناهونو کښې يې کومه ګناه هم کړې وی نو
هغه به معاف شی. پاتې شوی اوړهٔ به هم د غلې نذرانې په شان د اِمام وی.

## د ګناه د تاوان نذرانې

۱۴ مالِک خُدائ موسیٰ ته دا اصُول وښودل. ۱۵ کهٔ يو کس په غلطئ سره داسې ګناه
وکړی او د هغه قيمت په ورکولو کښې ناکام شی چې کوم مالِک خُدائ ته پېش کول وُو،
نو هغه به د ګناه د تاوان د نذرانې په توګه يو داسې ګډ يا چېلے مالِک خُدائ ته راولی
چې هيڅ عيب په کښې نهٔ وی. د دې قيمت به د منلے شوی معيار په مطابق مقررولے
شی. ۱۶ هغه به خامخا هغه پېسې ورکوی چې د کومو په ورکولو کښې ناکام شوے وی
او شل فيصده دې زياتې هم ورکړی. هغه به دا پېسې اِمام له ورکړی او اِمام به د هغه
کس د ګناه د تاوان د نذرانې دپاره څناور پېش کړی او هغه کس به معاف شی. ۱۷ کهٔ
څوک يوه داسې ګناه وکړی چې په غلطئ سره د مالِک خُدائ د حُکمونو نه يو حُکم
مات کړی، نو هغه ګناهګار دے او جرمانه به ورکوی. ۱۸ هغه به خامخا اِمام ته د ګناه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د تاوان د نذرانې په توګه يو ګډ يا چيلے راولى چې هيڅ عيب په کښې نۀ وى. د دې قيمت به د منلے شوى معيار په مطابق مقررولے شى. اِمام به د هغۀ د ګناه دپاره کفاره ادا کړى کومه چې هغۀ په غلطئ سره کړې وى او هغه به معاف کړے شى. ١٩ دا د هغې د ګناه د تاوان نذرانه ده کومه چې هغۀ د مالِک خُدائ خِلاف کړې وى.

٦ ١ مالِک خُدائ موسىٰ ته دا اصُول وښودل. ٢ کۀ څوک د مالِک خُدائ خِلاف داسې ګناه وکړى، لکه چې د يو اِسرائيلى امانت واپس ورنۀ کړى، يا د چا نه څۀ څيز پټ کړى، يا څوک دوکه کړى، نو يوه نذرانه به ورکړى، ٣ يا کۀ يو ورک شوے څيز پيدا کړى او د هغې په حقله دروغ ووائى او داسې قسم وخورى چې هغۀ دا نۀ دے موندلے. ٤-٥ کله چې يو کس په داسې طريقه ګناه وکړى، هغۀ چې څۀ څيز هم د غلا يا دوکې په طريقه اخستے وى نو هغه دې واپس ورکړى. په کومه ورځ چې هغه ګناهګار ثابت شى، نو هغه به خامخا د هغه څيز مالِک له پوره تاوان ورکوى او شل فيصده زيات به هم ورکوى. ٦ هغه دې اِمام له يو داسې بېعيبه ګډ يا چيلے راولى چې مالِک خُدائ ته يې د ګناه د تاوان د نذرانې په توګه پيش کړى. د دې قيمت به د منلے شوى معيار په مطابق مقررولے شى. ٧ اِمام به د هغه کس د ګناه دپاره کفاره ادا کړى او هغه به معاف شى.

## سوزېدونکې نذرانې

٨ بيا مالِک خُدائ موسىٰ ته حُکم وکړو ٩ چې هارون او د هغۀ زامنو ته د سوزېدونکې نذرانو په حقله دا اصُول وښايه. يوه سوزېدونکې نذرانه به ټوله شپه په قربانګاه باندې پرېښودلے شى او اور دې بل وساتلے شى. ١٠ بيا به اِمام خپله د کتان چُوغه او د کتان جانګے واغوندى، په قربانګاه باندې د سوزېدونکې نذرانې نه پاتې شوې ايرې به لرې کړى او د قربانګاه په څنګ کښې به يې واچوى. ١١ بيا دې جامې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بدلې کړی او ايرې دې د خېمو نه بهر يو پاک ځائ ته يوسی. ﴿۱۲﴾ په قربانګاه دې اور بل وساتلے شی خو چې مړ نۀ شی. اِمام به هر سحر په دې باندې لرګی ږدی، سوزېدونکې نذرانه به په دې سمه ږدی او د سلامتیٔ د نذرانې وازګه دې ورباندې سوزوی. ﴿۱۳﴾ اور دې خامخا په قربانګاه بل وساتلے شی او چې کله هم مړ نۀ شی.

## د غلې نذرانې

﴿۱۴﴾ دا د غلې نذرانې دپاره اصُول دی. د هارون د خاندان يو اِمام به د مالِک خُدائ په حضور کښې د قربانګاه په مخکښې د غلې نذرانه پېش کړی. ﴿۱۵﴾ بيا به هغه د ښو اوړو چې تېل ورسره ګډ وی او خوشبوئی ورباندې پرته وی د هغې نه دې يو موټے واخلی او په قربانګاه باندې به يې د يوې نښې په توګه وسوزوی چې دا ټوله مالِک خُدائ ته پېش کړے شوې ده. د دې نذرانې خوشبو په مالِک خُدائ ښۀ لګی. ﴿۱۶﴾-﴿۱۷﴾ اِمامان به هغه پاتې شوې برخه وخوری. د دې نه به پتيره روټئ پخه کړے شی او په مقدس ځائ کښې، د مالِک خُدائ د حضور د خېمې په دربار کښې به وخوړلے شی. دا مالِک خُدائ اِمامانو له په سوزېدونکې نذرانه کښې د هغوئ د برخې په توګه ورکړې ده. دا د ګناه د نذرانې او د ګناه د تاوان د نذرانې په شان ډېره مقدسه ده. ﴿۱۸﴾ په راتلونکی ټولو وختونو کښې د هارون د اولاد هر يو نارينه مالِک خُدائ ته په اور سوزېدونکې نذرانې نه خپله برخه د همېشه دپاره خوړلے شی. هر څوک يا هر څيز چې د هغې سره ولګی نو هغه به هم مقدس شی. ﴿۱۹﴾ بيا مالِک خُدائ موسیٰ ته دا اصُول وښودل. ﴿۲۰﴾ په کومه ورځ چې د هارون د خاندان يو اِمام مقررولے شی نو هغه به يو کلو ښۀ اوړۀ مالِک خُدائ ته د نذرانې په توګه پېش کوی د عامې غلې د نذرانې په شان، نيم په سحر کښې او نيم په ماښام کښې. ﴿۲۱﴾ دا به په تېلو کښې ګډ شی، په تبخی به پاخۀ کړے شی او چُوری به کړے شی او د غلې د نذرانې په توګه به پېش کړے شی، د دې خوشبو په مالِک خُدائ ښۀ لګی. ﴿۲۲﴾ په راتلونکی ټولو وختونو کښې به د هارون د اولاد هر يو کس دا نذرانه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تیاروی کوم چې د مشر اِمام په توګه خِدمت کوی. مالِک خُدائ ته د پېش کړې شوې
قربانۍ په توګه دا به ټوله وسوزولې شی. ۲۳ د اِمام د غلې د نذرانې یوه برخه به هم نهٔ
شی خوړلې، ټوله به خامخا سوزولې شی.

## د ګناه نذرانې

۲۴ بیا مالِک خُدائ موسیٰ ته حُکم وکړو چې ۲۵ هارون او د هغهٔ زامنو ته د ګناه د
نذرانې دپاره دا اصُول وښایه. د ګناه د نذرانې ځناور به د مالِک خُدائ په حضور کښې
حلالولې شی، چرته چې د سوزېدونکې نذرانې دپاره ځناور حلالیږی. دا یوه ډېره مقدسه
نذرانه ده. ۲۶ کوم اِمام چې دا ځناور قربانی کوی هغه به دا په مقدس ځائ کښې
وخوری چې هغه د مالِک خُدائ د حضور د خېمې دربار دے. ۲۷ هر څوک یا هر څیز
چې د هغې سره ولګی نو هغه به هم مقدس شی. کهٔ جامې د ځناور په وینه ولړلې شی،
نو هغه به خامخا په مقدس ځائ کښې وینځلې شی. ۲۸ د خاورې په کوم لوښی کښې
چې غوښه یشولې شوې وی هغه دې مات کړې شی او کهٔ د زیړو لوښې استعمال
شوې وی، نو هغه دې ومږلې شی او په اوبو کښې دې کنګال کړې شی. ۲۹ د اِمامانو
د کورَنو هر نر دا نذرانه خوړلې شی، دا ډېره مقدسه ده. ۳۰ خو کهٔ د کوم ځناور وینه
مقدسې خېمې ته دننه راوړلې شی او د ګناه د کفارې ادا کولو دپاره استعمال شی، نو
هغه ځناور دې نهٔ شی خوړلې چې د کوم نه وینه اخستې شوې وی، او دا دې
وسوزولې شی.

## د ګناه د تاوان نذرانې

۷ ۱ د ګناه د نذرانو د ورکولو دپاره دا اصُول دی، کومې چې ډېرې مقدسې دی. ۲
د ګناه د تاوان د نذرانې دپاره ځناور به هلته حلالیږی، چرته چې د سوزېدونکې نذرانې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څناور حلالیږی او د دې وینه دې د قربانګاه په ټولو طرفونو وشیندلے شی. ۳ د دې
ټوله وازګه دې په قربانګاه باندې پېش کړے شی، لم، هغه وازګه چې په کولمو پرته وی،
۴ پښتورګی او هغه وازګه چې ورباندې پرته وی او د اینې ښۀ حِصه هم. ۵ اِمام به
هغه ټول مالِک خُدائ ته په اور سوزېدونکې نذرانې په توګه په قربانګاه وسوزوی. دا د
ګناه د تاوان نذرانه ده. ۶ د اِمامانو د کورَنو هر نر کس دا خوړلے شی، خو دا به
خامخا په یو مقدس ځائ کښې خوړلے شی، ځکه چې دا ډېره مقدسه ده. ۷ د ګناه
نذرانې او د ګناه د تاوان نذرانې دواړو دپاره یو شان اصُول دی، غوښه د هغه اِمام ده
چې کفاره ادا کوی. ۸ اِمام چې د چا دپاره سوزېدونکې نذرانه پېش کوی نو د هغه
څناور څرمن به د هغه اِمام وی. ۹ د غلې هره یوه نذرانه کومه چې په تنور کښې یا
لوښی یا په تبخی پخیږی هغه د اِمام ده چا چې خُدائ پاک ته دا پېش کړې ده. ۱۰ خو
د غلې هغه ټولې نذرانې چې پخې شوې نۀ وی، کۀ په تېلو غوړې وی یا سپورې وی، هغه
د هارون د خاندان د ټولو اِمامانو دی او یو برابر دې په هغوئ باندې وویشلے شی.

## د سلامتۍ نذرانې

۱۱ دا د سلامتۍ د نذرانو دپاره اصُول دی کومې چې مالِک خُدائ ته پېش کولے شی.
۱۲ کۀ یو کس دا نذرانه د شکرانې په توګه خُدائ پاک ته پېش کوی، چې کوم څناور
قربانی کیږی د هغې سره دې په یو ځائ د پتیرې روټۍ یوه نذرانه پېش کړی، داسې غټه
روټۍ چې د زیتُونو تېل ورسره ګډ شوی وی یا نرۍ پخې شوې روټۍ چې د زیتُونو تېل
ورباندې لګولے شوی وی یا د ښو اوړو نه پخه شوې داسې روټۍ چې د زیتُونو تېل
ورسره ګډ شوی وی. ۱۳ د دې نه علاوه، هغه دې خمبیره پخې شوې روټۍ هم پېش
کړی. ۱۴ هغه دې د هر قِسم روټۍ یوه یوه حِصه د خاص برخې په توګه مالِک خُدائ
ته پېش کړی، دا د هغه اِمام دی کوم چې د څناور وینه واخلی او د قربانګاه سره یې
وشیندی. ۱۵ د سلامتۍ د نذرانې غوښه دې خامخا هم په هغه ورځ وخوړلے شی چې په
کومه ورځ هغه قربانی کیږی، تر بل سحر پورې دې د هغې نه هیڅ خیز پاتې نۀ شی. ۱۶

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کۀ يو کس د قسم پوره کولو يا د خپلې رضاکارانه نذرانې په توګه، د سلامتۍ نذرانه
راوړی، چې دا په کومه ورځ پېش کيږی نو په هغه ورځ دې خوړلے شی خو چې څۀ پاتې
وی نو هغه به په بله ورځ خوړلے شی. ۱۷ څۀ غوښه چې پاتې وی نو هغه دې په درېمه
ورځ وسوزولے شی. ۱۸ کۀ د سلامتۍ نذرانې نه څۀ په درېمه ورځ هم وخوړلے شی، نو
خُدائ پاک به د هغه کس نذرانه قبوله نۀ کړی. دا نذرانه به د هغۀ په فائده کښې حِساب
نۀ شی بلکې ناپاکه به وګڼلے شی او چې څوک هم دا وخوری نو هغۀ ته به د خپلو بدو
سزا مِلاو شی. ۱۹ کۀ چرې دا غوښه په يو ناپاک څيز پورې ولګی، نو دا دې نۀ شی
خوړلے، بلکې ودې سوزولے شی. چې څوک پاک وی نو هغه دا پاتې شوې غوښه
خوړلے شی، ۲۰ خو کۀ څوک پاک نۀ وی او د سلامتۍ نذرانې غوښه وخوری کومه
چې مالِک خُدائ ته پېش کړے شوې وی، نو هغه به نور د خُدائ پاک د خلقو نه نۀ شی
ګڼلے. ۲۱ کۀ يو کس ناپاک څيز له لاس وروړی، کۀ هغه ناپاکی د بنی آدم يا د ځناور
وی او د دې نذرانې غوښه وخوری، نو هغه به نور د مالِک خُدائ د خلقو نه نۀ شی
ګڼلے. ۲۲ مالِک خُدائ موسیٰ ته دا اصُول وښودل ۲۳ کوم چې د بنی اِسرائيلو دپاره
دی، د څاروو، ګډو، يا د چېلو وازګه مۀ خورئ. ۲۴ يو ځناور چې په خپل مرګ مړ وی
يا کۀ ځنګلی ځناورو وژلے وی د هغۀ وازګه به نۀ خورئ، خو هغه د څۀ بل مقصد دپاره
استعمالېدے شی. ۲۵ کۀ څوک د يو ځناور وازګه وخوری کوم چې مالِک خُدائ ته په
اور سوزېدونکې نذرانې په توګه پېش کېدے شوه نو هغه کس به نور د خُدائ پاک د
خلقو نه نۀ شی ګڼلے. ۲۶ بنی اِسرائيل چې چرته هم اوسيږی، هغوئ دې هيڅکله هم د
مارغانو يا د ځناورو وينه نۀ خوری. ۲۷ هر څوک چې وينه وخوری نو هغه به نور د
خُدائ پاک د خلقو نه نۀ شی ګڼلے. ۲۸ بيا مالِک خُدائ موسیٰ ته دا اصُول وښودل
۲۹ کوم چې د بنی اِسرائيلو دپاره دی. هر څوک چې يوه د سلامتۍ نذرانه پېش کوی نو
د هغې يوه برخه به د خاص تُحفې په توګه مالِک خُدائ ته پېش کوی، ۳۰ هغه دې دا په
خپلو لاسونو په اور سوزېدونکې نذرانې په توګه راوړی. هغه دې د هغه ځناور وازګه سره
د ځناور د سينې راوړی او مالِک خُدائ ته دې د يو خاص تُحفې په توګه پېش کړی. ۳۱

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اِمام به واژګه په قربانګاه باندې وسوزوی، خو هغه سینه به د اِمامانو وی. ۳۲ د څناور
وروستونے ښے پټون به د یوې برخې په توګه اِمام ته ورکولے شی، ۳۳ هغه اِمام له
کوم چې وینه او د سلامتۍ نذرانې واژګه پېش کوی. ۳۴ د څناور سینه یوه خاص تُحفه
ده او ښے پټون یوه خاص برخه ده چې مالِک خُدائ یې د بنی اِسرائیلو نه اخلی او
اِمامانو له یې ورکوی. نو داسې به اِسرائیلیان په راتلونکی ټولو وختونو کښې دا اِمامانو له
ورکوی. ۳۵ دا مالِک خُدائ ته په اور سوزېدونکې نذرانې برخه ده چې هارون او د هغهٔ
زامنو له ورکړے شوه چې په کومه ورځ هغوئ د اِمامانو په توګه مقرر شول. ۳۶ مالِک
خُدائ په هغه ورځ چې کله هغوئ په تېلو سره مسح کړل حکم ورکړے وو چې بنی
اِسرائیل به دا برخه همېشه اِمامانو له ورکوی. ۳۷ دا اصُول د سوزېدونکې نذرانو دپاره
دی، د غلې نذرانو دپاره، د ګناه نذرانو، د ګناه د تاوان د نذرانو، د مقررولو نذرانو او د
سلامتۍ د نذرانو دپاره دی. ۳۸ هلته په بیابان کښې د سینا په غرهٔ باندې، مالِک خُدائ
په هغه ورځ موسیٰ له دا حُکمونه ورکړل او هغهٔ بنی اِسرائیلو ته وفرمائیل چې خپلې
نذرانې راوړئ.

## د حضرت هارون او د هغهٔ د زامنو مقرر کېدل

۸ ۱ بیا مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائیل، ۲ ”هارون او د هغهٔ زامن او د اِمامانو
لِباس، د غوړولو تېل، د ګناه نذرانې دپاره سخے، دوه ګډان او د پتیرې روټۍ ټوکرۍ
راوړه. ۳ او زما د حضور مقدسې خېمې د دروازې خولې ته ټول قوم راوغواړه چې
هلته راغونډ شی.“ ۴ موسیٰ هم هغه شان وکړل چې څنګه مالِک خُدائ حُکم ورکړے
وو او چې کله ټول قوم هلته راغونډ شو، ۵ نو موسیٰ هغوئ ته وفرمائیل، ”زهٔ چې څهٔ
کوم مالِک خُدائ د دې حُکم راکړے دے.“ ۶ موسیٰ هارون او د هغهٔ زامن مخکښې
راوستل او هغوئ له یې په اوبو غسل ورکړو. ۷ هغهٔ هارون ته هغه قمیص او چُوغه
ورواغوستله او د ملا نه یې پټۍ ورله تاو کړه. هغه پېش بند یې ورواغوستلو او په یو ښهٔ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ګُلکارى شوى کمربند سره يې ونښلولو چې د هغهٔ د ملا نه تاو وو. ۸ هغهٔ ورله د
سينې جيب ولګولو او اُوريم او تميم يې په کښې کېښودل. ۹ هارون ته يې پټکے ورپه
سر کړو او د دې مخې ته يې د سرو زرو ګل ولګولو چې دا د وقف کولو مقدسه نښه وه،
هم هغه شان چې څنګه مالِک خُدائ هغهٔ ته حُکم ورکړے وو. ۱۰ بيا موسىٰ د غوړولو
تېل واخستل او د مالِک خُدائ د حضور په مقدسه خېمه او چې په هغې کښې څهٔ هم وُو
په هغې باندې يې ولګول، نو هغهٔ دا هر څهٔ مالِک خُدائ ته مخصوص کړل. ۱۱ هغهٔ څهٔ
تېل اووهٔ ځله په قربانګاه، د دې په سامان او د وينځلو په ښانک او د دې په بېخ باندې
وشيندل، د دې دپاره چې دا مالِک خُدائ ته وقف کړى. ۱۲ موسىٰ د هارون په سر
باندې د غوړولو دپاره څهٔ تېل واچول او سر يې ورله غوړ کړو چې وقف شى. ۱۳ بيا،
موسىٰ د هارون زامن مخکښې راوستل او قميصونه يې ورواغوستل، د هغوئ د ملا نه يې
پټۍ تاو کړې او ټوپۍ يې ورپه سر کړې، هم هغه شان چې څنګه مالِک خُدائ حُکم
ورکړے وو. ۱۴ بيا موسىٰ د ګناه د نذرانې دپاره هغه سخے راوستو او هارون او د هغهٔ
زامنو د دې په سر باندې خپل لاسونه کېښودل. ۱۵ موسىٰ دا حلال کړو او څهٔ وينه يې
واخستله او د خپلې ګوتې سره يې د قربانګاه په ښکرونو پورې ولګوله، د دې دپاره چې
وقف يې کړى. بيا هغهٔ پاتې شوې وينه د قربانګاه په بېخ کښې توئ کړه. نو دا يې وقف
کړه او د دې کفاره يې ادا کړه. ۱۶ موسىٰ په کولمو پرته ټوله وازګه، د اينې ښهٔ حِصه،
پښتورګى سره د هغه وازګې چې ورباندې پرتې وى، دا هر څهٔ يې واخستل او په
قربانګاه باندې يې وسوزول. ۱۷ خو هغهٔ سخے، سره د څرمنې، غوښې او د کولمو
يوړو او د خېمو نه بهر يې وسوزولو، هم هغه شان چې څنګه مالِک خُدائ حُکم ورکړے
وو. ۱۸ بيا، موسىٰ د سوزېدونکې نذرانې دپاره ګډ راوستلو او هارون او د هغهٔ زامنو
خپل لاسونه د دې په سر کېښودل. ۱۹ موسىٰ دا حلال کړو او د دې وينه يې د قربانګاه
په څلورو واړو طرفونو باندې وشيندله. ۲۰-۲۱ هغهٔ دا ګډ حِصې حِصې کړو او د هغهٔ
دننى اندامونه او پتُونان يې په اوبو ووينځل او سر، وازګه او نور ټول پاتې شوے ګډ يې
په قربانګاه باندې وسوزولو، هم هغه شان چې څنګه مالِک خُدائ حُکم ورکړے وو. دا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سوزېدونکې نذرانه يوه په اور تيارېدونکې نذرانه وه او د دې بوئ په مالِک خُدائ ښهٔ
ولګېدو. ۲۲ بيا موسىٰ دوېم ګډ راوستلو، کوم چې د اِمامانو د مقررولو دپاره وو او
هارون او د هغهٔ زامنو خپل لاسونه د دې په سر کېښودل. ۲۳ موسىٰ دا حلال کړو او
څهٔ وينه يې واخستله او د هارون د ښى غوږ په نرم ځائ، د هغهٔ د ښى لاس په غټه ګوته
او د هغهٔ د ښى پښې په غټه ګوته باندې يې ولګوله. ۲۴ بيا هغهٔ د هارون زامن مخکښې
راوستل او څهٔ وينه يې د هغوئ د ښى غوږُونو په نرمو ځايونو، د هغوئ د ښى لاسونو په
غټو ګوتو او د هغوئ د ښى پښو په غټو ګوتو پورې ولګوله. بيا موسىٰ هغه پاتې شوې
وينه د قربانګاه په څلورو واړو طرفونو باندې وشيندله. ۲۵ هغهٔ وازګه، لم، هغه ټوله
وازګه چې په دننى اندامونو پرته وى، د اينې ښهٔ حِصه، پښتورګى سره د هغه وازګې چې
وربانډې پرته وى او ښے پتُون واخستلو. ۲۶ بيا هغهٔ د پتيرې روټۍ د ټوکرۍ نه يوه
روټۍ واخستله کومه چې مالِک خُدائ ته وقف شوې وه، يوه غوړه روټۍ او يوه نرۍ
روټۍ راواخستله او د وازګې او د ښى پتُون دپاسه يې کېښودله. ۲۷ هغهٔ دا هر څهٔ د
هارون او د هغهٔ د زامنو په لاسونو کښې کېښودل، نو هغوئ دا د يوې خاص تُحفې په
توګه مالِک خُدائ ته پېش کړل. ۲۸ موسىٰ دا هر څهٔ د هغوئ نه واخستل او په
قربانګاه باندې يې، د سوزېدونکې نذرانې دپاسه، د مقررولو نذرانې په توګه وسوزول. دا
په اور سوزېدونکې نذرانه وه او د دې بوئ په مالِک خُدائ ښهٔ ولګېدو. ۲۹ بيا موسىٰ
هغه سينه واخستله او مالِک خُدائ ته يې د يوې خاص تُحفې په توګه پېش کړه. دا د
موسىٰ د مقررولو په ګډ کښې حِصه وه. موسىٰ هر څهٔ هم هغه شان وکړل چې څنګه
مالِک خُدائ حُکم ورکړے وو. ۳۰ موسىٰ د سر غوړولو څهٔ تېل او څهٔ وينه د قربانګاه
نه واخستله او په هارون او د هغهٔ په زامنو او د هغوئ په جامو يې وشيندله. داسې هغهٔ
هغوئ او د هغوئ جامې مالِک خُدائ ته مخصوصې کړې. ۳۱ موسىٰ هارون او د هغهٔ
زامنو ته وفرمائيل، ”دا غوښه د مالِک خُدائ د حضور خېمې خولې ته يوسئ، وې يشوئ
او د هغې روټۍ سره يې وخورئ کومه چې د مقررولو نذرانې په ټوکرۍ کښې ده، هم هغه
شان چې څنګه مالِک خُدائ حُکم کړے دے. ۳۲ کومه غوښه يا روټۍ چې پاتې وى نو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه وسوزوئ. ۳۳ اووۀ ورځې به تاسو د خېمې د دروازې خولې نه نۀ ځئ، چې ستاسو
د مقررولو رسمونه پوره شوی نۀ وی. ۳۴ چې نن مونږ څۀ وکړل نو مالِک خُدائ مونږ
له د دې کولو حُکم راکړے دے، چې ستاسو د ګناه کفاره ادا کړُو. ۳۵ تاسو به د
مقدسې خېمې د دروازې په خولۀ کښې اووۀ شپې او ورځې پاتې کېږئ، هغه کار به کوئ
د کوم چې مالِک خُدائ حُکم کړے دے. کۀ تاسو داسې ونۀ کړئ نو مړۀ به شئ. ځکه
چې دا هغه څۀ دی د کوم چې مالِک خُدائ ما له حُکم راکړے دے.“ ۳۶ نو هارون او
د هغۀ زامنو هغه هر څۀ وکړل لکه څنګه چې مالِک خُدائ د موسیٰ په ذریعه حُکم
ورکړے وو.

## حضرت هارون قربانۍ پېش کول

۹ ۱ د مقررولو د رسمونو نه پس په اتمه ورځ، هارون، د هغۀ زامن او د بنی اِسرائيلو
مشران موسیٰ راوغوښتل. ۲ هغۀ هارون ته وفرمائيل، ”يو سخے او يو ګډ روان کړه
چې هيڅ عيب په کښې نۀ وی او مالِک خُدائ ته يې پېش کړه، سخے د ګناه د نذرانې
دپاره دے او ګډ د سوزېدونکې نذرانې دپاره دے. ۳ بيا اِسرائيلو ته ووايه چې د ګناه د
نذرانې دپاره يو چيلے، د يو کال سخے او د يو کال ګډُورے بوځی چې هيڅ عيب په
کښې نۀ وی، دا به د سوزېدونکې نذرانې دپاره وی، ۴ او يو غوَيے او يو ګډ به د
سلامتۍ د نذرانې دپاره وی. هغوئ به دا مالِک خُدائ ته قربانۍ کړی، د غلې نذرانه به هم
وی چې تېل ورسره ګډ وی. هغوئ به خامخا داسې کوی ځکه چې مالِک خُدائ به نن
هغوئ ته څرګندېږی.“ ۵ هغوئ هر څۀ د مقدسې خېمې مخې ته راوړل چې څنګه
موسیٰ حُکم کړے وو او د مالِک خُدائ د عبادت دپاره ټول قوم هلته راغونډ شو. ۶
موسیٰ وفرمائيل، ”مالِک خُدائ تاسو له حُکم درکړے دے چې دا هر څۀ وکړئ، نو چې
د هغۀ د حضور جلال تاسو ته ښکاره شی.“ ۷ بيا هغۀ هارون ته وفرمائيل، ”قربانګاه
ته لاړ شه او د ګناه نذرانه او سوزېدونکې نذرانه پېش کړه چې ستا او د خلقو دپاره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کفاره ادا شی. د خلقو دپاره نذرانه پېش کړه او د هغوئ دپاره کفاره ادا کړه، هم هغه
شان چې څنګه مالِک خُدائ حُکم کړے دے.“ ۸ هارون قربان‌ګاه ته لاړو او د خپل
ځان دپاره يې يو سخے د ګناه د نذرانې په توګه حلال کړو. ۹ د هغهٔ زامنو وينه راوړه
او هغهٔ خپله ګوته په دې کښې ډُوبه کړه، لږه يې د قربان‌ګاه په ښکرو پورې ولګوه او
پاتې شوې وينه يې د قربان‌ګاه په بېخ کښې توئ کړه. ۱۰ بيا هغهٔ د ګناه د نذرانې نه
وازګه، پښتورګی او د اينې ښهٔ حِصه په قربان‌ګاه باندې وسوزول، هم هغه شان چې
څنګه مالِک خُدائ موسیٰ ته حُکم ورکړے وو. ۱۱ خو هغهٔ غوښه او څرمن د کېمپ نه
بهر وسوزوله. ۱۲ هغه ځناور يې حلال کړو کوم چې د هغهٔ د خپلې سوزېدونکې نذرانې
دپاره وو. د هغهٔ زامنو هغهٔ له وينه راوړه، نو هغهٔ د قربان‌ګاه په څلورو واړو طرفونو
باندې وشيندله. ۱۳ بيا هغوئ هغهٔ له د سوزېدونکې نذرانې يوه يوه حِصه سره د سر
ورکړه او هغهٔ دا په قربان‌ګاه باندې وسوزول. ۱۴ بيا هغهٔ دننی اندامونه او پتُونان
ووينځل او په قربان‌ګاه باندې يې د پاتې شوې سوزېدونکې نذرانې دپاسه وسوزول. ۱۵
د هغې نه پس، هغهٔ د خلقو نذرانې پېش کړې. چېلے يې بوتلو کوم چې د خلقو د ګناه
دپاره پېش کولے شو، حلال او پېش يې کړو، هم هغه شان چې څنګه يې د خپلې ګناه
دپاره پېش کړے وو. ۱۶ هغهٔ د سوزېدونکې نذرانې دپاره ځناور هم راوستلو او د
اصُولو په مطابق يې پېش کړو. ۱۷ هغهٔ د غلې نذرانه پېش کړه، هغهٔ يو موټے اوړهٔ
واخستل او په قربان‌ګاه باندې يې وسوزول. دا د هرې ورځې سوزېدونکې نذرانې نه
علاوه وه. ۱۸ هغهٔ غوَيے او ګډ د خلقو دپاره د سلامتۍ نذرانې په توګه حلال کړل. د
هغهٔ زامنو هغهٔ له وينه راوړه او هغهٔ د قربان‌ګاه په څلورو واړو طرفونو باندې واچوله.
۱۹ هارون د غوَيی او ګډ د وازګې والا حِصې واخستلې، ۲۰ د هغه ځناورو په سينو يې
دپاسه کېښودلې او هر څهٔ يې قربان‌ګاه ته راوړل. هغهٔ وازګه په قربان‌ګاه باندې وسوزوله
۲۱ او هغه سينې او ښے پتُون يې مالِک خُدائ ته د اِمامانو دپاره د خاص تُحفې په
توګه پېش کړې، څنګه چې موسیٰ حُکم کړے وو. ۲۲ چې کله هارون ټولې قربانۍ
ختمې کړې، هغهٔ خپل لاسونه د خلقو طرف ته اوږدهٔ کړل او د هغوئ دپاره يې برکت

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وغوښتو او بیا راکوز شو. ۲۳ موسیٰ او هارون د مالِک خُدائ مقدسې خېمې ته دننه
لاړل او چې راووتل، نو د خلقو دپاره يې برکت وغوښتلو او د مالِک خُدائ جلال ټولو
خلقو ته ښکاره شو. ۲۴ ناڅاپه مالِک خُدائ اور راولېږلو او دې اور په قربانګاه باندې
د وازګې والا حِصې او سوزېدونکې نذرانه پوره وسوزوله. چې خلقو دا وليدل، نو هغوئ
ټولو چغې کړې او سجده يې وکړه.

## د دوو اِمامانو وژلے کېدل

۱۰ ۱ نو د هارون زامنو ندب او ابيهُو، هر يو خپل مجمر واخستلو او ژوندى
سکارۀ يې په کښې واچول، خوشبوئى يې وربانديې واچوله او دا يې مالِک خُدائ ته پېش
کړل. خو دا اور خُدائ پاک ته قبول نۀ وو، ځکه چې مالِک خُدائ هغوئ له د دې د پېش
کولو حُکم نۀ وو ورکړے. ۲ نو ناڅاپه مالِک خُدائ اور راولېږلو او دې اور هلته د
مالِک خُدائ په حضور کښې هغوئ وسوزول او مړۀ شول. ۳ بيا موسیٰ هارون ته
وفرمائيل، ”د مالِک خُدائ مطلب دا وو کله چې هغۀ وفرمائيل، هر څوک چې زما
خِدمت کوى هغوئ دې خامخا زما د پاکوالى عزت کوى، زۀ به خپلو خلقو ته خپل جلال
ښکاره کړم.“ خو هارون غلے پاتې شو. ۴ موسیٰ ميسائيل او الصفن، د عُزىاېل
زامن راوغوښتل، عُزىاېل د هارون ترۀ وو او موسیٰ هغوئ ته وفرمائيل، ”دلته راشئ او
د خپل ترۀ د زامنو مړى د مقدسې خېمې نه يوسئ او د کېمپ نه بهر يې کېږدئ.“ ۵ نو
هغوئ راغلل او مړى يې د جامو نه ونيول او د خېمو نه بهر يې يوړل، هم هغه شان چې
څنګه موسیٰ حُکم ورکړے وو. ۶ بيا موسیٰ هارون او د هغۀ زامنو اِلىعزر او اِتمر ته
وفرمائيل، ”خپل وېښتۀ ببر مۀ ساتئ او نۀ چې خپلې جامې وشلوئ چې ښکاره کړئ چې
په غم غمژن يئ. کۀ تاسو داسې وکړل، نو مړۀ به شئ. او مالِک خُدائ به ټول قوم ته په
قهر شى. خو نورو بنى اِسرائيلو ته اجازت دے چې په دې غم غمژن شى کوم مرګ چې
د مالِک خُدائ د اور په وجه شوے دے. ۷ د مقدسې خېمې د دروازې د خولې نه مۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځئ ګڼې مړۀ به شئ، ځکه چې تاسو د مالِک خُدائ په تېلو غوړ کړے شوی یئ.“ نو هغوئ هم هغه شان وکړل چې څنګه موسیٰ فرمائیلی وُو.

## د اِمامانو دپاره اصُول

٨ نو مالِک خُدائ هارون ته وفرمائیل، ٩ ”د مېو یا د شرابو څښلو نه پس تۀ او ستا
زامن زما د حضور مقدسې خېمې ته مۀ راځئ، کۀ تاسو داسې وکړل، نو مړۀ به شئ. دا
قانون د همېشه دپاره دے چې ستاسو ټول اولاد به پرې عمل کوی. ١٠ تاسو خامخا د
هغه څيزونو په مينځ کښې فرق کوئ څۀ چې د خُدائ پاک دی یا څۀ چې د عام استعمال
دپاره دی او د هغه څيزونو په مينځ کښې چې کوم پاک دی او کوم ناپاک دی. ١١ تاسو
بنی اِسرائيلو ته هغه ټول قانون وښايئ کوم چې ما د موسیٰ په ذريعه درکړے دے.“ ١٢
موسیٰ هارون او د هغۀ دوه پاتې شوو زامنو، اِلىعزر او اِتمر ته وفرمائيل، ”د غلې هغه
نذرانه واخلئ کومه چې مالِک خُدائ ته په اور سوزېدونکې نذرانې نه پاتې شوې ده، پتيره
روټئ د دې سره پخه کړئ او د قربان‌ګاه په خوا کښې يې وخورئ، ځکه چې دا نذرانه
ډېره مقدسه ده. ١٣ دا په مقدس ځائ کښې وخورئ، دا مالِک خُدائ ته په اور
سوزېدونکې نذرانه کښې ستا او ستا د زامنو حِصه ده. دا هغه څۀ دی چې مالِک خُدائ
ما ته حُکم کړے دے. ١٤ خو تاسو او ستاسو خاندان هغه سينه او پټُون خوړلے شئ
کوم چې د اِمامانو دپاره مالِک خُدائ ته د خاص تُحفې او خاص برخې په توګه پيش
کيږی. دا تاسو په يو پاک ځائ کښې خوړلے شئ. دا نذرانې تاسو او ستاسو بچو له د
بنی اِسرائيلو د سلامتئ د نذرانو د برخې نه درکړے شوې دی چې ستاسو شی. ١٥ هغه
پټُون او سينه به په هغه وخت راوړے شی چې کله وازګه په اور سوزېدونکې نذرانې په
توګه مالِک خُدائ ته پيش کيږی. دا برخې به همېشه دپاره ستاسو او ستاسو د بچو وی،
هم هغه شان چې څنګه مالِک خُدائ حُکم کړے دے.“ ١٦ موسیٰ د ګناه نذرانې د چېلې
په حقله تپوس وکړو او خبر شو چې هغه خو سوزولے شوے دے. په دې باندې هغه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اِلیعزر او اِتمر ته په قهر شو او پوښتنه يې وکړه چې، ۱۷ ”د ګناه نذرانه تاسو په مقدس
ځائ کښې ولې ونۀ خوړله؟ دا ډېره مقدسه ده او دا مالِک خُدائ تاسو له د دې دپاره
درکړې ده چې د کفارې ادا کولو په ذريعه د مالِک خُدائ په نظر کښې د قوم ګناهونه
لرې شی. ۱۸ چې د دې وينه مقدسې خېمې ته ورلے شوې نۀ وه، نو تاسو له په کار
وُو چې هغه قربانی مو هلته خوړلے، چې څنګه ما حُکم درکړے وو.“ ۱۹ هارون په
جواب کښې وفرمائيل، ”کۀ ما د ګناه نذرانه خوړلې وے، نو مالِک خُدائ به قبوله کړې
وے څۀ؟ خلقو نن په خپله د ګناه نذرانه مالِک خُدائ ته پېش کړه او هغوئ خپله
سوزېدونکې نذرانه هم راوړه، خو بيا هم دا مصيبتونه ما ته راپېښ شول.“ ۲۰ چې کله
موسیٰ دا واورېدل، نو د هغۀ تسلی وشوه.

## حلال او حرام څناور

**۱۱** ۱ مالِک خُدائ موسیٰ او هارون ته دا اصُول وښودل ۲ کوم چې د بنی
اِسرائيلو دپاره وُو. تاسو په زمکه ګرځېدونکے هر هغه څناور خوړلے شئ ۳ چې د
هغې د پښو سومونه په مينځ بېل وی او بيا بيا شخوند وهی، ۴-۶ خو تاسو دا څناور
مۀ خورئ، يعنې اوښ، څنګلی سوه، يا عامه سوه. دا به ناپاک ګڼلے شی، دا بيا بيا
شخوند وهی، خو د دې سومونه يې په مينځ بېل نۀ دی. ۷ خنزير مۀ خورئ. دا به
خامخا ناپاک ګڼلے شی، د دې د پښو نوکونه په مينځ بېل وی، خو بيا بيا شخوند نۀ
وهی. ۸ دا څناور مۀ خورئ يا چې مړۀ وی نو لاس به هم نۀ وروړئ، دا ناپاک دی.
۹ تاسو هغه هر قِسم کبان خوړلے شئ کوم چې وزر او په څرمن پتری لری، ۱۰ خو
داسې د اوبو بل هر يو څيز چې وزر او په څرمن پتری نۀ لری هغه نۀ شئ خوړلے. ۱۱
داسې څيزونه به ستاسو دپاره حرام وی. تاسو به هيڅکله هم د دې غوښه نۀ خورئ يا کۀ
مړۀ وی نو لاس به هم نۀ وروړئ. ۱۲ تاسو هر هغه څيز مۀ خورئ کوم چې په اوبو
کښې اوسيږی او وزر او په څرمن پتری نۀ لری. ۱۳-۱۹ دا هغه مارغان دی چې تاسو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

به ترې نه کرکه کوئ چې تاسو يې ونۀ خورئ ځکه چې دا حرام دی، شاهين، ګونګا، باز،
شهباز، باښه، ګنجې، کارغۀ، شترمرغ، ايلۍ، زاڼې، ډينګ، ماهی خور مارغۀ، سمندری
بطحه، ملاچرچک يا ښاپيرک. ٢٠ الوتونکی حشرات ناپاک دی، تاسو د دې نه کرکه
وکړئ، ٢١ خو بغير د هغې نه چې په پښو ګرځی او ټوپونه وهی. ٢٢ تاسو کيږړی، د
قحطۍ مُلخان او نور مُلخان خوړلے شئ. ٢٣ خو نور ټول واړۀ خيزونه چې وزر لری
او په زمکه باندې په پښو ګرځی دا به ستاسو دپاره حرام وی. ٢٤-٢٨ دا ځناور ستاسو
دپاره ناپاک دی، هر څوک چې دې مړو ځناورو ته لاس وروړی نو هغه به تر ماښامه
پورې ناپاک وی يعنې ټول نوکونه لرونکی ځناور، خو د هغې نه بغير چې نوکونه يې په
مينځ ښېل وی او بيا بيا شخوند وهی، او ټول څلور پښې لرونکی ځناور چې پنجې لری.
چې دا ځناور مړۀ وی او هر څوک ورله لاس وروړی يا يې يوسی، نو هغه به خامخا
خپلې جامې وينځی، خو هغه به بيا هم تر ماښامه پورې ناپاک وی. ٢٩-٣٠ ړنده مږه،
عامه مږه، منږکان او سمسېره، کربوړے او هر قِسم چرمښکۍ به خامخا ناپاک ګڼلے
شی. ٣١ دا ستاسو دپاره ناپاک دی. چې دا مړۀ وی او هر څوک چې لاس وروړی نو
هغه به تر ماښامه پورې ناپاک وی. ٣٢ او يا کۀ دا مړۀ وی او په څۀ خيز باندې
وغورزيږی، نو هغه به ناپاک وی. هغه خيز کۀ د لرګی نه جوړ وی، کپړه، څرمن، يا
بوجۍ وی، کۀ هر خيز دپاره هم استعماليږی. هغه خيز به په اوبو کښې غوپه کړے شی،
خو دا به بيا هم تر ماښامه پورې ناپاک وی. ٣٣ کۀ دا مړۀ شوی ځناور د خاورو په
لوښی کښې وغورزيږی، په هغې کښې چې هر څۀ وی نو هغه به ناپاک وی، نو تاسو هغه
لوښے مات کړئ. ٣٤ هر هغه خوراک کوم چې په عامه توګه خوړلے شی، خو کۀ په
دې خوراک باندې د هغه لوښی نه اوبۀ توئ کړے شوې وی، نو هغه خوراک به ناپاک
وی او په داسې لوښی کښې چې د څښلو څۀ هم وی نو هغه به ناپاک وی. ٣٥ کۀ دا
مړۀ شوی ځناور په هر څۀ باندې راوغورزيږی نو هغه به ناپاک وی، کۀ هغه د ختې
نغرے وی يا د پخلی لوښے وی نو ماتولے به شی، ٣٦ خو چينه يا ډيګۍ به پاکه وی،
خو کۀ بل هر څوک دې مړو ځناورو له لاس وروړی نو هغه به ناپاک وی. ٣٧ کۀ دا په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه تخم باندې وغورزيږی کوم چې کَرلے کيږی، نو تخم به پاک وی. ۳۸ خو کۀ تخم
په اوبو کښې پستولے شی او دا قِسم مړ ځناور ورباندې راوغورزيږی، نو تخم به ناپاک
وی. ۳۹ کۀ يو حلال ځناور مړ شی، کۀ هر څوک ورله لاس وروړی نو هغه به تر
ماښامه پورې ناپاک وی. ۴۰ کۀ هر څوک د دې ځناور څۀ غوښه وخوری، نو هغه به
خامخا خپلې جامې وينځی، خو هغه به بيا هم تر ماښامه پورې ناپاک وی، هر څوک چې
دا مړۀ ځناور يوسی نو هغه به خامخا خپلې جامې ووينځی، خو هغه به بيا هم تر ماښامه
پورې ناپاک وی. ۴۱ تاسو هغه ټول ځناور مۀ خورئ کوم چې په زمکه باندې ګرځی،
۴۲ لکه چې په خېټه باندې، يا په څلورو پښو باندې او يا په ډېرو پښو ګرځی. ۴۳ د دې
په خوړلو باندې خپل ځانونه مۀ ناپاکه کوئ. ۴۴ زۀ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يم
او تاسو خپل ځانونه پاک او مقدس ساتئ، ځکه چې زۀ مقدس يم. ۴۵ زۀ مالِک خُدائ
يم چا چې تاسو د مِصر مُلک نه راوويستلئ چې زۀ ستاسو خُدائ پاک يم، تاسو خامخا
مقدس اوسئ، ځکه چې زۀ مقدس يم. ۴۶ نو دا د ځناورو او مارغانو په حقله قانون
دے، د هغه هر ژوندی څيز په حقله چې په اوبو کښې اوسيږی او چې په زمکه ګرځی.
۴۷ چې تاسو د پاک او ناپاک او د حلال او حرام په مينځ کښې فرق وکړئ.

## د ماشوم د پيدا کېدو نه پس د ښځې پاکوالے

۱۲ ۱ بيا مالِک خُدائ موسىٰ ته دا اصُول وښودل ۲ کوم چې د بنی اِسرائيلو
دپاره دی. د يو زوئ پيدا کېدو نه پس ښځه تر اووۀ ورځو پورې ناپاکه وی، هم هغه شان
چې څنګه د مياشتنۍ بيمارۍ په دوران کښې ناپاکه وی. ۳ په اتمه ورځ به ماشوم
سنت کړے شی. ۴ نو ښځه دې درې دېرش ورځې نور هم انتظار کوی، ترڅو چې هغه
پاکه شی. نو په دې دوران کښې به هغه هيڅ پاک څيز له لاس نۀ وروړی او نۀ به مقدسې
خېمې ته ورننوځی چې تر څو پورې هغه پاکه شوې نۀ وی. ۵ د يوې لور پيدا کېدو نه
پس ښځه تر څوارلسو ورځو پورې هم هغه شان ناپاکه وی، چې څنګه د مياشتنۍ بيمارۍ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په دوران کښې ناپاکه وی. او د پوره پاکېدو دپاره به هغه شپږ شپېتهٔ ورځې نور هم انتظار
کوی. ۶ چې کله د هغې د ناپاکوالی وخت ختم شی نو هغه پاکه شی، کهٔ د هغې زوئ
یا لور پېدا شوې وی، نو هغه به اِمام ته د مالِک خُدائ د حضور مقدسې خېمې خولې ته
د یو کال ګډُورے د سوزېدونکې نذرانې دپاره او یوه کونتره یا یوه ګوګوشتکه د ګناه د
نذرانې دپاره راوړی. ۷ اِمام به د هغې نذرانه مالِک خُدائ ته پېش کړی او د هغې د
ناپاکئ د لرې کولو دپاره به کفاره ادا کړی او د وینې د بهېدو نه به هغه پاکه شی. دا هغه
اصُول دی چې یوه ښځه به یې د هلک یا د جینئ د پېدا کېدو نه پس ضرور کوی. ۸
کهٔ هغه ښځه یو ګډُورے نهٔ شی اخستلے، نو هغه به یوه د کُړکوړو جوړه یا د کونترو
دوه بچی راوړی، یوه به د سوزېدونکې نذرانې دپاره وی او بله د ګناه د نذرانې دپاره وی
او اِمام به د هغې د ناپاکئ لرې کولو دپاره کفاره ادا کړی او هغه به پاکه شی.

## د ځرمنې د بیمارئ په حقله قانون

١٣ ١ بیا مالِک خُدائ موسیٰ او هارون ته دا اصُول وښودل. ٢ کهٔ د چا په
ځرمن زخم وی یا پړسوب یا دانه وی چې د دې دا یره وی چې د دې نه به لکه د جذام
بیماری جوړه شی، نو هغه به د هارون د خاندان اِمام ته راوستلے شی. ٣ اِمام به
زخم وګوری او کهٔ په دې کښې وېښتهٔ سپین شوی وی او زخم د ګېرچاپېره ځرمنې نه
ډُوب ښکارېدو، نو دا د جذام بیماری ده او اِمام به اِعلان وکړی چې دا کس ناپاکه دے.
۴ خو کهٔ زخم سپین وی او د ګېرچاپېره ځرمنې نه ډُوب نهٔ ښکاری او وېښتهٔ هم
سپین شوی نهٔ وی، نو اِمام به هغه د اووهٔ ورځو دپاره د نورو نه جدا وساتی. ۵ اِمام
به په اوومه ورځ هغه بیا وګوری او کهٔ د هغهٔ په خیال کښې زخم هم هغه شان ښکاری او
خور شوے نهٔ وی، نو هغه به یې د نورو اووهٔ ورځو دپاره جدا وساتی. ۶ اِمام به په
اوومه ورځ هغه بیا وګوری او کهٔ زخم اوچ شوے وی او خور شوے نهٔ وی، نو هغه به
اِعلان وکړی چې دا کس پاک دے، دا بس صِرف زخم دے. نو هغه کس دې خپلې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جامې ووينځى او هغه به پاک شى. ۷ خو کۀ د اِمام د کتلو نه پس زخم خوريږى او
اِمام اِعلان کړے وى چې دا پاک دے نو هغه به خامخا د اِمام په مخکښې بيا
حاضريږى. ۸ اِمام به هغه بيا وګورى او کۀ دا خور شوے وى، نو اِمام به اِعلان
وکړى چې هغه ناپاک دے، دا د جذام بيمارى ده. ۹ کۀ د چا د جذام بيمارى وى، نو
اِمام له به راوستلے شى، ۱۰ اِمام به دے وګورى. کۀ د هغۀ په څرمن زخم سپين وى
کوم چې ويښتۀ سپينوى او د پيپ نه ډک وى، ۱۱ دا د جذام يوه بيمارى ده چې د ډير
وخت نه ده. اِمام به اِعلان وکړى چې دا ناپاک دے، د هغۀ د نورو نه د جدا کولو
ضرورت نشته، ځکه چې هغه په ښکاره ناپاکه دے. ۱۲ کۀ د جذام بيمارى خوريږى او
هغه کس يې د سر نه تر پښو پورې پټ کړے وى، کوم ځايونه چې اِمام ته ښکارى، ۱۳
نو اِمام به هغه بيا وګورى. کۀ هغۀ ته پته ولګى چې دا بيمارى د هغۀ د ټول وجود نه
ختمه شوې ده، نو هغه به اِعلان وکړى چې دا پاک دے. کۀ دې بيمارۍ سره د هغۀ ټول
وجود سپين شوے وى، نو هغه پاک دے. ۱۴ خو چې د کوم وخت نه کولاو زخم
ښکاره شى، نو هغه به ناپاک وى. ۱۵ کله چې اِمام دا کولاو زخم وګورى، نو هغه به
اِعلان وکړى چې دا ناپاک دے. د کولاو زخم مطلب دا دے چې دا د جذام بيمارى ده او
هغه کس ناپاک دے. ۱۶ خو چې کله زخم روغ شى او بيا سپين شى، نو هغه کس به
اِمام له لاړ شى، ۱۷ هغه به يې بيا وګورى. کۀ زخم سپين شوے وى، نو هغه پاک دے
او اِمام به اِعلان وکړى چې دا پاک دے. ۱۸ کۀ په يو کس دانه وى چې روغه شوى
وى ۱۹ او کۀ د دې نه پس پړسوب يا سور بخن يا سپين بخن داغ راښکاره شى چرته
چې دانه وه، نو هغه به دا اِمام ته وښائى. ۲۰ اِمام به هغه وګورى او کۀ دانه د
ګېرچاپېره څرمنې نه ډُوبه ښکارى او ويښتۀ په کښې سپين شوى وى، نو هغه به اِعلان
وکړى چې دا ناپاکه دے. دا د جذام بيمارى ده چې په دانه کښې شروع شوې ده. ۲۱
خو کۀ اِمام دا وګورى او پته ورته ولګى چې په دې کښې ويښتۀ سپين شوى نۀ دى او دا
د ګېرچاپېره څرمنې نه ډُوبه نۀ وى، خو چې دا اوچه شوې وى، نو اِمام به هغه اووۀ
ورځې د نورو نه جدا کړى. ۲۲ کۀ داغ خور شى، نو اِمام به اِعلان وکړى چې هغه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ناپاکه دے، دا د بیمارئ یوه نښه ده. ۲۳ خو کهٔ دا په خپل ځائ کښې ایسار شی او
خور نهٔ شی، نو دا د داڼې نه پاتې شوې نښه ده او اِمام به اِعلان وکړی چې دا کس پاک
دے. ۲۴ کهٔ یو کس سوزېدلے وی، کهٔ دا کچه غوښه سپینه یا سره بخنه سپینه شی،
۲۵ اِمام به هغه وګوری. کهٔ په دانه کښې وېښتهٔ سپین شوی وی او دا د ګېرچاپېره
څرمنې نه ډُویه ښکاری، دا د جذام بیماری ده چې د سوزېدو په وجه شروع شوې ده او
اِمام به اِعلان وکړی چې دا ناپاک دے. ۲۶ خو کهٔ په دې کښې وېښتهٔ سپین شوی نهٔ
وی او د ګېرچاپېره څرمنې نه ډُویه نهٔ وی، خو چې اوچه شوې وی، نو اِمام به هغه تر
اووهٔ ورځو پورې د نورو نه جدا کړی. ۲۷ اِمام به هغه په اوومه ورځ بیا وګوری او کهٔ
دا خورېږی، نو دا د جذام بیماری ده او اِمام به اِعلان وکړی چې دا ناپاک دے. ۲۸
خو کهٔ داغ په خپل ځائ ایسار شی او خور نهٔ شی او اوچ شی، نو دا د جذام بیماری نهٔ
ده. اِمام به اِعلان وکړی چې دا پاک دے، ځکه چې داسې تش د سوزېدلی ځائ نښه
وی. ۲۹ کله چې د یو سړی یا ښځې په سر یا زنه باندې زخم وی، ۳۰ اِمام به دا
وګوری. کهٔ چرې د ګېرچاپېره څرمنې نه ډُوب ښکاری او وېښتهٔ په کښې زېړ بخن او
نری ښکاری، نو دا د جذام بیماری ده او هغه به اِعلان وکړی چې دا کس ناپاک دے.
۳۱ کهٔ چرې اِمام هغه وګوری، کهٔ زخم د ګېرچاپېره څرمنې نه ډُوب نهٔ ښکاری، خو تر
اوسه پورې په کښې تور وېښتهٔ نهٔ وی نو هغه به دا د اووهٔ ورځو دپاره د نورو نه جدا
کړی. ۳۲ اِمام به په اوومه ورځ هغه زخم بیا وګوری او کهٔ دا خور شوے نهٔ وی او په
دې کښې زېړ بخن وېښتهٔ نهٔ وی او د ګېرچاپېره څرمنې نه ډُوب نهٔ ښکاری، ۳۳ نو هغه
کس به د زخم د ځائ نه بغېر نور سر کل کړی. اِمام به یې بیا د نورو اووهٔ ورځو دپاره
جدا کړی. ۳۴ په اوومه ورځ به بیا اِمام هغه زخم وګوری او کهٔ دا خور شوے نهٔ وی او
د ګېرچاپېره څرمنې نه ډُوب نهٔ ښکاری، نو هغه به اِعلان وکړی چې دا پاک دے. هغه
کس به خپلې جامې ووینځی او هغه به پاک شی. ۳۵ خو چې کله هغه اِعلان وکړی چې
دا پاک دے او د هغې نه پس زخم خور شی، ۳۶ اِمام به هغه بیا وګوری. کهٔ زخم خور
شوے وی، نو هغهٔ ته ضرورت نشته چې زېړ بخن وېښتهٔ وګوری، هغه کس ښکاره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ناپاک دے. ۳۷ خو کۀ د اِمام په خيال کښې زخم خور شوے نۀ وی او تور وېښتۀ په
کښې شوی وی، نو زخم روغ شوے دے او اِمام به اِعلان وکړی چې هغه پاک دے. ۳۸
چې کله د يو سړی يا ښځې په څرمن سپينې دانې وی، ۳۹ اِمام به هغه کس وګوری. کۀ
داغونه اوچ او سپين وی، نو دا بس صرِف يوه ګرمکه ده چې په څرمن باندې راختلې
ده، هغه کس پاک دے. ۴۰-۴۱ کۀ د يو سړی مخکښېنی يا وروستنی د سر وېښتۀ
غورزېدلی وی، نو د دې په وجه هغه نۀ ناپاکه کېږی. ۴۲ خو چې کوم ځائ ګنجے وی
کۀ په هغې باندې سپين يا سور بخن سپين زخم ښکاره شی، نو دا د جذام بيماری ده.
۴۳ اِمام به هغه وګوری او کۀ زخم سور بخن سپين وی، ۴۴ نو اِمام به اِعلان وکړی
چې هغه ناپاک دے، ځکه چې د هغۀ په سر باندې د جذام بيماری ده. ۴۵ د کوم کس
چې د جذام بيماری وی نو هغه به خامخا شلېدلې جامې اغوندی، خپل وېښتۀ به ببر
پرېږدی، خولۀ او پوزه دې پټه کړی او چغې دې وهی، ”زۀ ناپاک يم، زۀ ناپاک يم.“ ۴۶
چې تر کومې پورې د هغۀ دا بيماری وی نو هغه به ناپاک وی او هغه به د خېمو نه بهر، د
نورو نه لرې اوسيږی.

## په جامو او څرمن کښې د ناپاکۍ قانون

۴۷-۴۸ چې کله په کپړو د وروستوالی پشم ولګی، کۀ هغه د وړی يا د کتان وی يا کۀ په
څرمن باندې وی يا په داسې څۀ څيز باندې هم وی چې د څرمنې نه جوړ وی، ۴۹ کۀ دا
پشم شين بخن يا سور بخن وی، دا يو خورېدونکے پشم دے او دا به خامخا اِمام ته
ښودلے شی. ۵۰ اِمام به يې وګوری او هغه څيز به تر اووۀ ورځو پورې جدا کېږدی.
۵۱ هغه به دا په اوومه ورځ بيا وګوری او کۀ پشم پرې خور شوے وی، نو هغه څيز
ناپاک دے. ۵۲ اِمام به دا وسوزوی، ځکه چې دا يو خورېدونکے پشم دے کوم چې به
خامخا په اور ختمولے شی. ۵۳ خو، کۀ هغه دا وګوری او اِمام ته پته ولګی چې پشم په
هغه څيز باندې خور شوے نۀ دے، ۵۴ هغه به حُکم وکړی چې دا دې ووينځلے شی او
د نورو اووۀ ورځو دپاره دې جدا وساتی. ۵۵ بيا به هغه دا وګوری او کۀ پشم خپل رنګ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نۀ وی بدل کړے او خور شوے هم نۀ وی، دا بیا هم ناپاک دے، خرابتیا کۀ د دې مخې
ته وی یا شا ته وی تاسو هغه څیز وسوزوئ. ۵۶ خو چې بیا یې وګوری، چې پشم اوچ
شوے وی، نو هغه دې د هغه کپړې یا څرمنې نه خرابه شوې حِصه وشلوی. ۵۷ کۀ
پشم بیا راڅرګند شی او خوریږی، نو د دې مالِک به دا څیز وسوزوی. ۵۸ کۀ هغه دا
څیز ووینځی او داغونه ورک شی، هغه به دا بیا ووینځی او دا به پاک شی. ۵۹ نو دا
قانون په کپړه د پشم په حقله دے، کۀ هغه پشم په وړئ یا په لټه وی، یا د لټې یا د وړئ
په کپړه وی، یا د څرمنې جوړ شوی څیز باندې وی، نو د دې په بنیاد به فېصله کولے
شی چې دا پاک دی او کۀ ناپاک دی.

## د څرمنې د بیمارو نه پس پاکوالے

۱۴ ۱ بیا مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائیل ۲ دا اصُول د هغه کس د پاکوالی
دپاره دی چې د جذام د بیمارئ نه روغ شوے وی. چې په کومه ورځ اِعلان وشی چې
هغه پاک دے، نو هغه به اِمام له بوتلے شی، ۳ او اِمام به هغه د خیمو نه بهر بوځی او
وبه یې ګوری. کۀ هغه کس روغ شوے وی، ۴ نو اِمام به حُکم وکړی چې دوه حلال
مارغان دې د دِیار د لرګی د یوې ټُکړې سره، یو د تک سور تار او د ویلنی بوټی سره
راوړلے شی. ۵ بیا به اِمام حُکم وکړی چې یو مارغۀ دې د خاورې لوښی دپاسه حلال
کړے شی چې د چینې تازه اوبۀ په کښې وی. ۶ هغه به ژوندے مارغۀ د دِیار د لرګی،
د تک سور تار او د ویلنی سره، د هغۀ مارغۀ په وینه کښې ډُوب کړی کوم چې حلال
شوے وی. ۷ هغه به اووۀ ځله هغه وینه په هغه سړی باندې وشیندی کوم چې د جذام
د بیمارئ نه پاکولے شی او بیا به هغه اِعلان وکړی چې دا کس پاک دے. هغه به
ژوندے مارغۀ آزاد کړی چې په هوا کښې والوځی. ۸ هغه کس به خپلې جامې
ووینځی، ټول وېښتۀ به کل کړی او غسل به وکړی، نو پاک به شی. بیا هغه خیمو ته تلے
شی، خو هغه به اووۀ ورځې د خپلې خیمې نه بهر اوسیږی. ۹ په اوومه ورځ به هغه بیا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپل سر، ږیره، وروځې او د بدن نور ټول وېښتهٔ کل کړی، هغه به خپلې جامې ووینځی
او غسل به وکړی، نو هغه به پاک شی. ۱۰ په اتمه ورځ به هغه دوه ګډُوری او یوه
ګډورۍ چې د یو کال وی او هیڅ عیب په کښې نهٔ وی، درې کلو اوړهٔ چې د زیتُونو تېل
ورسره ګډ وی او د لیټر دریمه حِصه د زیتُونو تېل دې راوړی. ۱۱ اِمام به هغه کس او
دا نذرانې د مالِک خُدائ د حضور مقدسې خېمې د دروازې خولې ته یوسی. ۱۲ بیا به
اِمام یو ګډُورے او د تېلو د لیټر دریمه حِصه یوسی او دا به د ګناه د تاوان د نذرانې په
توګه پېش کړی. هغه به دا د اِمام دپاره مالِک خُدائ ته د خاص نذرانې په توګه پېش
کړی. ۱۳ هغه به ګډُورے په هغه مقدس ځائ کښې حلال کړی چرته چې د ګناه نذرانې
او د سوزېدونکې نذرانې دپاره څناور حلالولے شی. دا ځکه چې د ګناه د تاوان نذرانه، د
ګناه د نذرانې په شان د اِمام ده او ډېره مقدسه ده. ۱۴ اِمام به د ګډُوری لږه وینه
واخلی او د هغه کس د ښی غوږ په نرم ځائ پورې، د هغهٔ د ښی لاس په غټې ګوتې پورې
او د هغهٔ د ښی پښې په غټې ګوتې پورې دې ولګوی د کوم کس چې اِعلان کېږی چې دا
پاک دے. ۱۵ اِمام به د زیتُونو لږ تېل واخلی او د خپل ګس لاس په تلی کښې به یې
واچوی، ۱۶ د خپل ښی لاس ګوته به په دې کښې ډُوبه کړی او لږ به هلته د مالِک
خُدائ په حضور کښې اووهٔ ځله وشیندی. ۱۷ هغه به څهٔ تېل چې د هغهٔ د لاس په تلی
کښې دی او څهٔ د ګډُوری وینه واخلی او د هغه کس د ښی غوږ په نرم ځائ پورې، د
هغهٔ د ښی لاس په غټې ګوتې پورې او د هغهٔ د ښی پښې په غټې ګوتې پورې ولګوی چې د
کوم کس اِعلان کېږی چې دا پاک دے. ۱۸ د هغهٔ د لاس په تلی کښې چې کوم پاتې
شوی تېل دی هغه به د دې کس په سر باندې ولګوی. نو د هغهٔ د پاکوالی کفاره به ادا
کړی. ۱۹ بیا به اِمام د ګناه نذرانه پېش کړی او د پاکوالی کفاره به ادا کړی. د هغې نه
پس، هغه به د سوزېدونکې نذرانې دپاره څناور حلال کړی ۲۰ او دا به د غلې نذرانې
سره په قربانګاه باندې پېش کړی. نو اِمام به د پاکوالی کفاره ادا کړی او هغه کس به
پاک شی. ۲۱ کهٔ هغه غریب وی او نور څهٔ نهٔ شی اخستلے، نو د هغهٔ د پاکوالی د
کفارې ادا کولو دپاره دې هغه یو ګډُورے د ګناه د تاوان د نذرانې په توګه پېش کړی، دا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

به مالِک خُدائ ته د اِمام دپاره یوه خاص تُحفه وی. هغه به صِرف یو کلو اوړهٔ چې د
زیتُونو تېل ورسره ګډ وی، دا د غلې د نذرانې دپاره او د لیټر دریمه حِصه د زیتُونو تېل
راوړی. ۲۲ هغه به دوه ګوګوشتکې یا دوه کونترې هم راوړی، یوه د ګناه نذرانې دپاره
او یوه به د سوزېدونکې نذرانې دپاره وی. ۲۳ د هغهٔ د پاکوالی په اتمه ورځ به هغه دا د
مقدسې خیمې د دروازې په خولهٔ کښې اِمامانو له راوړی. ۲۴ اِمام به ګډُورے او د
زیتُونو تېل واخلی او مالِک خُدائ ته به یې د یوې خاص تُحفې په توګه د اِمام دپاره پېش
کړی. ۲۵ هغه به ګډُورے حلال کړی او د دې څهٔ وینه به واخلی او د هغه کس د ښی
غوږ په نرم ځائ پورې، د ښی لاس په غټې ګوتې پورې او د هغهٔ د ښی پښې په غټې ګوتې
پورې ولګوی. ۲۶ اِمام به لږ تېل د خپل ګس لاس په تلی کښې واچوی ۲۷ او د خپل
ښی لاس د یوې ګوتې سره به څهٔ تېل د مالِک خُدائ په حضور کښې اووهٔ ځله وشیندی.
۲۸ هغه به څهٔ تېل هم په هغه ځایونو پورې ولګوی چې څنګه یې وینه لګولې وه، د هغهٔ د
ښی غوږ په نرم ځائ پورې، د هغهٔ د ښی لاس په غټې ګوتې پورې، او د هغهٔ د ښی پښې
په غټې ګوتې پورې. ۲۹ د هغهٔ په تلی کښې چې کوم پاتې شوی تېل دی هغه دې د هغه
کس په سر واچوی او داسې به د پاکوالی کفاره ادا کړی. ۳۰ بیا به هغه یوه ګوګوشتکه
یا کونتره پېش کړی، ۳۱ دا به د ګناه د نذرانې په توګه او هغه بله د غلې د نذرانې سره،
د سوزېدونکې نذرانې په توګه پېش کړی. نو اِمام به د مالِک خُدائ په حضور کښې د
هغه کس د پاکوالی کفاره ادا کړی. ۳۲ دا قانون د هغه چا دپاره دے چې د جذام
بیماری لری خو د خپل پاکوالی دپاره عامې نذرانې نهٔ شی اخستلے.

## په کورونو کښې د وروستوالی پښم

۳۳ بیا مالِک خُدائ موسیٰ او هارون ته وفرمائیل ۳۴-۳۵ او د هغه کورونو په حقله دا
اصُول یې ورته وښودل چې خورېدونکی پښم په حقله وی. (دا اصُول د بنی اِسرائیلو
دپاره وُو چې کله هغوئ د کنعان مُلک ته ننوتلی وے نو د هغې نه پس به پرې عمل
کېدلے، کوم مُلک چې مالِک خُدائ هغوئ له ورکولو چې خپل یې شی.) کهٔ چا ته پته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ولګی چې مالِک خُدائ د هغهٔ په کور پښم راوستے دے، نو هغه به خامخا ځی او د دې
په حقله به اِمام ته وائی. ۳۶ نو چې کله اِمام پښم لیدلو له هلته ورځی نو هغه به حُکم
وکړی چې هر څهٔ دې د هغه کور نه بهر وویستلے شی، هسې نه چې د هغه کور ټول
سامان ناپاکه اِعلان کړے شی. نو د دې نه وروسته دې اِمام کور ته ورشی ۳۷ او پښم
به وګوری. کهٔ په دې کښې شین بخن یا سور بخن داغونه وی چې دېوال خرابوی، ۳۸
اِمام به د هغه کور نه لاړ شی او اووهٔ ورځې به یې بند وساتی. ۳۹ په اوومه ورځ به هغه
واپس راشی او بیا به یې وګوری. کهٔ پښم خور شوے وی، ۴۰ هغه به حُکم وکړی چې
هغه کاڼی دې لرې کړے شی چې په کومو باندې پښم ښکاری او د ښار نه بهر په یو
ناپاک ځائ کښې دې وغورزولے شی. ۴۱ بیا دې هغه دننه ټول دېوالونه وتراشی او هغه
راغورزیدلې خاوره دې د ښار نه بهر یو ناپاک ځائ ته یوړے شی. ۴۲ چې کوم کاڼی
لرې کړے شوی وی نو د هغې په ځائ دې نور استعمال کړے شی او دېوالونه دې په
نوې خټه باندې لیو کړے شی. ۴۳ د کاڼو د لرې کولو او دېوالونو د تراشلو او لیولو نه
پس کهٔ بیا په هغه کور کښې پښم راښکاره شی، ۴۴ نو اِمام به لاړ شی او وبه یې ګوری.
کهٔ پښم خور شوے وی، نو کور ناپاک دے. ۴۵ هغه کور دې خامخا وران کړے شی
او د دې کاڼی، لرګی او د دې ټولې خاورې دې د ښار نه بهر یو ناپاک ځائ ته یوړے
شی. ۴۶ هر څوک چې هغه کور ته دننه لاړ شی کله چې هغه تاله وی نو هغه به تر
ماښامه پورې ناپاک وی. ۴۷ هر څوک چې په دې کور کښې څملی یا په کښې خوراک
وکړی نو خامخا به خپلې جامې وینځی. ۴۸ کهٔ کله اِمام د دې کتلو له راشی او د کور
د بیا لیولو نه پس پښم راخرګند شوے نهٔ وی، نو هغه به اِعلان وکړی چې کور پاک
دے، ځکه چې پښم ورک شوے دے. ۴۹ د کور د پاکولو دپاره، هغه به دوه مارغان، د
دِیار لرګے، یو تک سور تار او د ویلنې یوه ښانګه واخلی. ۵۰ هغه به یو مارغهٔ د ختې
یو لوښی دپاسه حلال کړی چې د چینې تازه اوبهٔ په کښې وی. ۵۱ بیا به هغه د دِیار
لرګے، د ویلنې ښانګه، تک سور تار او هغه ژوندے مارغهٔ واخلی او دا به د هغه حلال
شوی مارغهٔ په وینه کښې او په تازه اوبو کښې ډُوب کړی. او دا وینه او اوبهٔ دې په کور

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

باندې اووۀ ځله وشيندى. ۵۲ نو هغه به دا کور د مارغۀ د وينې په ذريعه، د تازه اوبو او
ژوندى مارغۀ، د دِيار لرګى، د وېلنى او د سور تار سره پاک کړى. ۵۳ بيا به هغه
ژوندے مارغۀ آزاد کړى چې د ښار نه بهر په هوا کښې والوځى. نو داسې هغه به د کور
د پاکوالى دپاره کفاره ادا کړى او دا به پاک شى. ۵۴ دا قانون د جذام بيمارئ او
خارښت په حقله دے، ۵۵-۵۶ د زخمونو، پړسوب، يا دانو، او يا په جامو يا کورونو
کښې د پشم په حقله دے. ۵۷ کۀ يو څيز پاک يا ناپاک وى نو په دې قانون به فېصله
کولے شى.

## د بدن ناپاکوالے

۱۵ ۱ بيا مالِک خُدائ موسیٰ او هارون ته دا اصُول وښودل ۲ کوم چې د بنى
اِسرائيلو دپاره دى. کۀ د سړى د ذکر نه څۀ اوبۀ ووځى، نو هغه اوبۀ ناپاکې دى، ۳ کۀ
د هغۀ د ذکر نه اوبۀ روانې وى يا بند وى نو هغه ناپاک وى. ۴ چې په کومه بستره هغه
څملاستلے وى يا په بل څۀ باندې ناست وى نو هغه به هم ناپاک وى. ۵ هر څوک
چې د هغۀ بسترې له لاس وروړى ۶ يا په هر څۀ باندې کښېنى په کوم باندې چې هغه
سړے ناست وى نو هغه به جامې ووينځى او غسل به وکړى او تر ماښامه پورې به
ناپاک وى. ۷ کۀ څوک هغه سړى له لاس وروړى چې د کوم نه اوبۀ ځى نو هغه به
خامخا خپلې جامې ووينځى او غسل به وکړى او تر ماښامه پورې به ناپاکه وى. ۸
چې د کوم سړى د ذکر نه اوبۀ ځى کۀ هغه په يو پاک کس توکانړې اوتُوکى، نو هغه کس
به خامخا جامې ووينځى او غسل به وکړى او تر ماښامه پورې به ناپاک وى. ۹ په
کوم زين چې هغه سړے کښېنى چې د کوم سړى د ذکر نه چې اوبۀ ځى نو هغه زين به
ناپاک وى. ۱۰ هر څوک چې هر هغه څيز له ګوتې وروړى چې په کوم باندې هغه سړے
ناست وى نو هغه به تر ماښامه پورې ناپاک وى. کۀ څوک هر هغه څيز يوسى چې په
کوم باندې هغه سړے ناست وى نو هغه به خامخا خپلې جامې ووينځى او غسل به

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وکړی او تر ماښامه پورې به ناپاک وی. ۱۱ د کوم سړی د ذکر نه چې اوبۀ ځی کۀ هغۀ
خپل لاسونه نۀ وی وینځلی او چا له ګوتې وروړی، نو هغه کس به خامخا خپلې جامې
ووینځی او غسل به وکړی، خو هغه به تر ماښامه پورې ناپاک وی. ۱۲ هغه سړے کۀ د
خټو لوښی له لاس وروړی نو دا به ماتولے شی او کۀ د لرګی لوښی له لاس وروړی نو
خامخا به وینځلے شی. ۱۳ د کوم سړی چې د ذکر نه اوبۀ ځی او هغه روغ شی نو د
هغې نه پس، هغه به خامخا اووۀ ورځې اِنتظار کوی او بیا به خپلې جامې ووینځی او د
چینې په تازه اوبو کښې به غسل وکړی او هغه به پاک شی. ۱۴ په اتمه ورځ به هغه دوه
ګوګوشتکې یا دوه کونترې د مالِک خُدائ د حضور مقدسې خېمې د دروازې خولې ته
یوسی او اِمام له به یې ورکړی. ۱۵ او اِمام به د دې نه یوه د ګناه د نذرانې په توګه او
بله د سوزېدونکې نذرانې په توګه پېش کړی، چې د هغه سړی د پاکوالی کفاره ادا کړی.
۱۶ کله چې د یو سړی نه منی ووځی، نو هغه به خامخا خپل ټول بدن ووینځی او هغه به
تر ماښامه پورې ناپاک وی. ۱۷ هر څیز چې د کپړې یا څرمنې نه جوړ وی او منی
وریاندې پرېوځی نو خامخا به وینځلے شی او تر ماښامه پورې به ناپاک وی. ۱۸ د
سړی او ښځې د کوروالی کولو نه پس به خامخا دواړه غسل کوی او هغوئ به تر
ماښامه پورې ناپاک وی. ۱۹ چې کله د یوې ښځې میاشتنۍ بیماری وی، نو هغه به
اووۀ ورځې ناپاکه وی. هر څوک چې هغې له لاس وروړی نو هغه به تر ماښامه پورې
ناپاک وی. ۲۰ د میاشتنۍ بیمارۍ په دوران کښې چې هغه په هر څیز باندې کښېنی یا
څملی نو دا به ناپاک وی. ۲۱-۲۳ هر څوک چې د هغې بسترې یا هر هغه څیز له لاس
وروړی چې په کوم باندې هغه ناسته وی نو هغه به خامخا خپلې جامې ووینځی او غسل
به وکړی او تر ماښامه پورې به ناپاک وی. ۲۴ کۀ یو سړے د هغې سره په داسې وخت
کښې څملی چې میاشتنۍ بیماری یې وی، نو هغه د هغې د ناپاکۍ په وجه ناپاک دے او
اووۀ ورځې به ناپاک وی او هغه بستره هم ناپاکه ده په کومه باندې چې هغه څملی. ۲۵
کۀ د یوې ښځې د میاشتنۍ بیمارۍ نه بغیر هم د ډېرو ورځو پورې وینه بهیږی یا د
میاشتنۍ بیمارۍ د ورځو نه اخوا هم د هغې نه وینه جاری وی، نو تر کومې پورې چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تړې نه وينه بهيږي هغه ناپاکه ده، لکه چې څنګه د مياشتنۍ بيمارۍ په وخت کښې وي.
۲۶ په دې دوران کښې چې هغه په کومه بستره څملی او په څهٔ څيز باندې کښېنی نو دا
ناپاک دی. ۲۷ هر څوک چې دې څيزونو له لاس وروړی نو هغه ناپاک دے او خامخا
به خپلې جامې ووينځی او غسل به وکړی، هغه به تر ماښامه پورې ناپاک وی. ۲۸ چې
د هغې نه وينه بهېدل بند شی نو هغه به خامخا اووهٔ ورځې اِنتظار کوی او بيا به هغه پاکه
شی. ۲۹ په اتمه ورځ به هغه دوه ګوګوشتکې يا دوه کونترې د مالِک خُدائ د مقدسې
خيمې د دروازې په خولهٔ کښې اِمام له يوسی. ۳۰ اِمام به د دې نه يوه د ګناه د نذرانې
په توګه او بله د سوزېدونکې نذرانې په توګه پېش کړی، نو د هغې دپاره به د پاکوالی
کفاره ادا کړی. ۳۱ مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل چې بنی اِسرائيلو له خبردارے
ورکړه چې څوک ناپاک وی هغه به لرې اوسيږی، نو د مالِک خُدائ د حضور مقدسې
خيمې بې‌عزتی به نهٔ کيږی، کومه چې د خېمو په مينځ کښې ده. کهٔ هغوئ بې‌عزتی وکړه،
نو مړهٔ به شی. ۳۲ دا اصُول د هغه سړی په حقله دی چې د ذکر نه يې اوبهٔ يا منی څی،
۳۳ دا د داسې ښځې په حقله دی چې د هغې مياشتنۍ بيماری وی، يا د يو سړی په حقله
چې د يوې ښځې سره څملی کومه چې ناپاکه وی.

## د معافۍ لويه ورځ

۱۶ ۱ مالِک خُدائ موسیٰ ته د هارون د دوو زامنو د مرګ نه پس وفرمائيل چې
کله هغوئ مالِک خُدائ ته هغه اور پېش کړو کوم چې خُدائ پاک ته قبول نهٔ وو. ۲
مالِک خُدائ وفرمائيل، "خپل ورور هارون ته ووايه چې هغه به صِرف په مناسب وخت
د پردې شا ته زيات مقدس ځائ ته ننوځی، ځکه چې زهٔ به هلته په وريځ کښې د لوظ
صندوق د کفارې تخت دپاسه راښکاره کيږم. کهٔ هغهٔ نافرمانی وکړه، نو هغه به ووژلے
شی. ۳ هغه زيات مقدس ځائ ته د هغې نه پس داخليدلے شی چې يو سخے د ګناه د
نذرانې دپاره او يو ګډ د سوزېدونکې نذرانې دپاره راولی." ۴ بيا مالِک خُدائ دا اصُول

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وښودل. زيات مقدس ځائ ته ننوتلو نه مخکښې دې هارون خامخا غسل وکړی او د
اِمامانو لِباس دې واغوندی، د کتان چُوغه او جانګی، پټۍ او پټکے. ۵ د بنی اِسرائيلو
قوم به هارون له د ګناه د نذرانې دپاره دوه چېلی او يو ګډ د سوزېدونکې نذرانې دپاره
ورکړی. ۶ هغه به يو غوَيے د نذرانې په توګه پېش کړی چې د هغۀ د خپلې ګناه او د
هغۀ د خاندان کفاره ادا شی. ۷ بيا به هغه دوه چېلی د مالِک خُدائ د مقدسې خېمې د
دروازې خولې ته بوځی. ۸ هلته به هغه پچه واچوی، دوه تيرې به راواخلی، په يوه
باندې به "مالِک خُدائ دپاره" نښه واچوی او په بله به "عزازيل دپاره" نښه واچوی. ۹
هارون به هغه چېلے حلال کړی چې د مالِک خُدائ دپاره د پچې په ذريعه خوښ کړے
شوے وی او د ګناه د نذرانې په توګه به يې پېش کړی. ۱۰ چې کوم چېلے د عزازيل
دپاره خوښ کړے شوے وی هغه به مالِک خُدائ ته ژوندے پېش کيږی او په بيابان
کښې به عزازيل ته وشړلے شی، چې د خلقو د ګناه کفاره ادا شی. ۱۱ چې کله هارون
غوَيے د خپلې ګناه او د خپل خاندان د ګناه دپاره د نذرانې په توګه قربانی کړی، ۱۲
هغه به دوه موټۍ ښه خوشبوئی او د قربانګاه نه يو مجمر د بلو سکارو واخلی او زيات
مقدس ځائ ته به يې دننه راوړی. ۱۳ هغه به هلته د مالِک خُدائ په حضور کښې
خوشبوئی په اور باندې واچوی او د خوشبويۍ لوګے به د لوظ صندوق د کفارې تخت
پټ کړی نو هغه به دا ونۀ ګوری او مړ به نۀ شی. ۱۴ هغه به د غوَيی لږه وينه واخلی او
د خپلې ګوتې سره به يې د صندوق د کفارې تخت نمرخاتۀ طرف ته وشيندی او بيا به
لږه د لوظ صندوق د کفارې تخت په مخکښې اووۀ ځله وشيندی. ۱۵ د هغې نه پس،
هغه به چېلے د خلقو دپاره د ګناه د نذرانې په توګه حلال کړی، وينه به يې زيات مقدس
ځائ ته راوړی، د صندوق د کفارې په تخت او په مخکښې به يې وشيندی، هم هغه شان
چې څنګه يې د غوَيی د وينې سره کړی وُو. ۱۶ نو په دې کولو سره به هغه د زيات
مقدس ځائ د پاکوالی کفاره ادا کړی چې د بنی اِسرائيلو د ناپاکۍ او د ټولو ګناهونو نه
پاک شی. هغه به د مقدسې خېمې دپاره خامخا داسې وکړی، ځکه چې هغه د کيمپ په
مينځ کښې ولاړه ده، کوم ځائ چې ناپاک دے. ۱۷ د هارون د پاکوالی کفاره ادا کولو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دپاره زيات مقدس ځائ ته ننوتلو نه واخله د هغۀ د بهر راوتلو پورې، هلته به په خېمه
کښې هيڅ څوک نۀ وى. چې په کوم وخت هغه د ځان، د خپل خاندان او د ټول قوم
دپاره کفاره ادا کوى، ۱۸ بيا به هغه خامخا د سوزېدونکې نذرانو دپاره بهر قربان‌گاه ته
لاړ شى او پاکه به يې کړى. هغه به لږه د غوَيى وينه او لږه د چېلى وينه واخلى او د
قربان‌گاه په ټولو ښکرونو پورې دې ولگوى. ۱۹ هغه دې د خپلې گوتې سره لږه وينه
اووۀ ځله په قربان‌گاه باندې وشيندى. نو دا به د بنى اِسرائيلو د گناهونو نه پاکه کړى او
مقدسه به يې کړى.

## د گناهونو د کفارې چېلے

۲۰ چې کله هارون د زيات مقدس ځائ، د مالِک خُدائ د حضور د ټولې مقدسې
خېمې او د قربان‌گاه د پاکوالى کفاره ادا کول ختم کړى، نو هغه به مالِک خُدائ ته هغه
ژوندے چېلے پېش کړى چې د عزازيل دپاره خوښ شوے وو. ۲۱ خپل دواړه لاسونه
به د چېلى په سر کېږدى او د ټولو بدو عملونو، گناهونو او بنى اِسرائيلو د سرکشو اِقرار
به وکړى او دا به د چېلى په سر واچوى. بيا به يو مقرر شوے سړے دا چېلے بيابان ته
بوځى. ۲۲ چېلے به د ځان سره د هغوئ ټول گناهونه په بيابان کښې يوې غېرابادې
علاقې ته يوسى. ۲۳ نو بيا به هارون مقدسې خېمې ته ننوځى، زيات مقدس ځائ ته د
ننوتلو نه مخکښې هغۀ چې کوم د اِمامانو د کتان لِباس اغوستے وو نو هغه به وباسى او
هلته به يې پرېږدى. ۲۴ هغه به په يو مقدس ځائ کښې غسل وکړى او خپلې جامې به
واغوندى. د هغې نه پس، هغه به بهر لاړ شى او د خپلو گناهونو او د خلقو گناهونو لرې
کولو کفارې دپاره به سوزېدونکې نذرانه پېش کړى. ۲۵ د ځناور وازگه به په قربان‌گاه
باندې وسوزوى چې د گناه د نذرانې دپاره ده. ۲۶ کوم سړى چې دا چېلے په بيابان
کښې عزازيل له بوتلے وى نو کېمپ ته واپس راتلو نه مخکښې هغه به خپلې جامې
ووينځى او غسل به وکړى. ۲۷ کوم غوَيے او چېلے چې د گناه د نذرانې دپاره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

استعمال شوی وُو چې وینه یې د ګناه د کفارې ادا کولو دپاره زیات مقدس ځائ ته
راوړلے شوې وه، دا به د کېمپ نه بهر وړلے شی او سوزولے به شی. څرمن، غوښه او
کولمې هر څۀ به سوزولے شی. ٢٨ څوک چې دا وسوزوی نو کېمپ ته واپس راتلو نه
مخکښې هغه به خپلې جامې ووینځی او غسل به وکړی.

## د کفارې ورځ لمانځل

٢٩ دا اصُول به د همېشه دپاره وی. د اوومې میاشتې په لسمه ورځ اِسرائیلیان او د
هغوئ سره مهاجر خلق به خامخا روژه نیسی او هیڅ کار به نۀ کوی. ٣٠ په هغه ورځ به
د هغوئ د ټولو ګناهونو نه د پاکوالی کفاره ادا شی او هغوئ به پاک شی. ٣١ چې په
کومه ورځ باندې هغوئ روژه نیسی او کار نۀ کوی نو هغه به یوه ډېره مقدسه ورځ وی.
دا اصُول به د همېشه دپاره وی. ٣٢ کوم مشر اِمام چې د پلار په ځائ مقرر شوے
وی، هغه به د پاکوالی کفاره ادا کړی. هغه به د اِمامانو د کتان لِباس واغوندی ٣٣ او د
زیات مقدس ځائ، د مالِک خُدائ د حضور ټولې مقدسې خېمې، قربان‌ګاه، د اِمامانو
او د ټول قوم د پاکوالی کفاره به ادا کړی. ٣٤ دا اصُول به د همېشه دپاره وی. په کال
کښې یو ځل به خامخا د اِسرائیلو د ټولې ګناه نه د پاکوالی دپاره کفاره ادا کېږی. نو
موسیٰ هم هغه شان وکړل چې څنګه مالِک خُدائ حُکم کړے وو.

## د وینې خوړل حرام دی

١٧ ١ بیا مالِک خُدائ موسیٰ ته حُکم وکړو چې ٢ هارون د هغۀ زامنو او ټولو
اِسرائیلو ته دا اصُول وښائی. ٣-٤ کۀ یو اِسرائیلے کس یو غوَیے، یو ګډُورے، یا یو
چېلیٰ مالِک خُدائ ته د نذرانې په توګه د مالِک خُدائ د حضور مقدسې خېمې د دروازې
خولې نه بغیر په هر ځائ کښې حلال کړی نو هغۀ به قانون مات کړے وی. هغۀ وینه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

توئ کړې ده او هغه به نور د خُدائ پاک د خلقو نه نۀ شی ګڼلے. ۵ د دې حُکم
مطلب دا دے چې اِسرائيلو کوم څناور په کولاو ميدان کښې حلالول نو هغوئ به هغه
مالِک خُدائ ته راولی. هغوئ به دا د مقدسې خېمې د دروازې په خولۀ کښې اِمام له
راولی او د سلامتئ د نذرانو په توګه به يې حلالوی. ۶ اِمام به هغه وينه د مقدسې
خېمې د دروازې په خولۀ کښې د قربان‌ګاه په طرفونو باندې وشيندی او د خوشبوئ
جوړېدو دپاره دې وازګه وسوزوی، په مالِک خُدائ باندې دا خوشبو ښۀ لګی. ۷
اِسرائيليان دې د مالِک خُدائ سره نوره بې‌وفائی نۀ کوی چې خپل څناور د چېلو په
شان ښکارېدونکو پيريانو ته قربانی کړی. اِسرائيل به په راتلونکی ټولو وختونو کښې دا
اصُول خامخا منی. ۸ يو اِسرائيلے يا د پردی مُلک هر يو کس چې د هغوئ سره
اوسېږی چې هغه يوه سوزېدونکې نذرانه يا بله څۀ قربانی پېش کوی ۹ او د مقدسې
خېمې د دروازې خولې ته يې مالِک خُدائ ته د پېش کولو دپاره رانۀ وړی نو هغه کس به
نور د خُدائ پاک د خلقو نه نۀ شی ګڼلے. ۱۰ هر يو اِسرائيلے يا د بل مُلک کس چې د
هغوئ سره اوسېږی کۀ هغه غوښه خوری چې وينه لا په کښې وی، نو مالِک خُدائ به د
هغۀ خِلاف شی او هغه به نور د هغۀ د خلقو نه نۀ شی ګڼلے. ۱۱ د هر ژوندی ځيز ژوند
په وينه کښې دے او دا ځکه مالِک خُدائ حُکم کړے دے چې ټوله وينه به په قربان‌ګاه
توئ کړے شی چې د خلقو د ګناه کفاره ادا شی، دا وينه ده چې د ګناهونو کفاره ادا
کوی. ۱۲ دا ځکه مالِک خُدائ بنی اِسرائيلو ته فرمائيلی دی چې نۀ به هغوئ او نۀ به د
هغوئ سره مهاجر هغه غوښه خوری چې وينه لا په کښې وی. ۱۳ هر يو اِسرائيلے يا د
پردی مُلک کس چې د هغوئ سره اوسېږی کۀ د يو څناور يا مارغۀ ښکار وکړی کوم
چې حلال وی، نو هغه به خامخا د دې وينه په زمکه توئ کړی او په خاوره به يې پټه
کړی. ۱۴ د هر ژوندی ځيز ژوند په وينه کښې دے، نو دا ځکه مالِک خُدائ اِسرائيلو ته
فرمائيلی دی چې هغوئ به هغه غوښه نۀ خوری چې وينه لا په کښې وی خو کۀ چا
وخوړله نو هغه به نور د هغۀ د خلقو نه نۀ شی ګڼلے. ۱۵ هر څوک، کۀ هغه اِسرائيلے
وی يا د پردی مُلک کس، کۀ هغۀ د يو داسې څناور غوښه وخوړله چې هغه په خپل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مرګ مړ وی یا ځنګلی ځناورو وژلے وی نو هغه به خامخا خپلې جامې ووینځی، غسل
به وکړی او تر ماښامه پورې به هغه ناپاک وی خو بیا به پاک شی. ⟨۱۶⟩ کهٔ هغهٔ داسې
ونهٔ کړل، نو هغهٔ ته به د خپلو بدو سزا مِلاو شی.

## ناروا جنسی تعلقات

۱۸ ⟨۱⟩ مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل، ⟨۲⟩ "بنی اِسرائيلو ته ووايه چې، زهٔ مالِک
خُدائ ستاسو خُدائ پاک یم. ⟨۳⟩ تاسو هغه شان کارونه مهٔ کوئ څنګه چې د مِصر د
مُلک خلقو کول، چرته چې تاسو اوسېدلئ او تاسو هغه شان کار هم مهٔ کوئ څنګه چې
د کنعان خلق یې کوی، چرته چې زهٔ تاسو بوځم. ⟨۴⟩ تاسو به زما حُکمونه منئ او زما
په قانون به عمل کوئ. زهٔ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک یم. ⟨۵⟩ تاسو زما په شریعت
او حُکمونو عمل کوئ، هر څوک چې پرې عمل کوی نو هغوئ به د دې په سبب پائی. زهٔ
مالِک خُدائ یم. ⟨۶⟩ هیڅ څوک دې د خپلوانو سره زنا نهٔ کوی. زهٔ مالِک خُدائ یم. ⟨۷⟩
د خپلې مور سره زنا کولو په وجه د خپل پلار سپکاوے مهٔ کوئ، هغه ستاسو مور ده. د
خپلې مور سره به هیڅکله داسې غلط کار نهٔ کوئ. ⟨۸⟩ د خپل پلار د نورو ښځو سره
زنا مهٔ کوئ، دا ستاسو د پلار سپکاوے دے. ⟨۹⟩ د خپلې سکه یا ناسکه خور سره زنا
مهٔ کوئ، کهٔ هغه ستاسو په کور کښې لويه شوې وی یا په بل ځائ کښې. ⟨۱۰⟩ د خپلې
نمسیٔ سره زنا مهٔ کوئ، د هغې سپکاوے ستاسو خپل سپکاوے دے. ⟨۱۱⟩ د خپلې
ناسکه خور سره زنا مهٔ کوئ، ځکه چې هغه ستاسو خور ده. ⟨۱۲⟩-⟨۱۳⟩ د خپلې ترور
سره زنا مهٔ کوئ، ځکه چې هغه ستاسو د پلار یا د مور وینه ده. ⟨۱۴⟩ د خپل ترهٔ د ښځې
سره د زنا کولو په وجه د هغهٔ سپکاوے مهٔ کوئ، ځکه چې هغه ستاسو د ترهٔ ښځه ده.
⟨۱۵⟩ د خپلې اِنږور سره زنا مهٔ کوئ، هغه ستاسو د زوئ ښځه ده. ⟨۱۶⟩ د خپلې ورندارې
سره زنا مهٔ کوئ، دا ستاسو د خپل ورور سپکاوے دے. ⟨۱۷⟩ چې تاسو د یوې ښځې
سره ځملئ نو د هغې د لور یا د هغې د نمسیٔ سره هم زنا مهٔ کوئ، ځکه چې هغوئ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستاسو خپلوانې دی، دا به يو بد عمل وی. (۱۸) د خپلې ښينې سره وادۀ مۀ کوئ چې کله
د هغې خور يعنې ستاسو ښځه ژوندۍ وی. (۱۹) چې کله د يوې ښځې مياشتنۍ بيماری
وی نو د هغې سره مۀ څملئ ځکه چې هغه ناپاکه وی. (۲۰) د بل سړی د ښځې سره مۀ
څملئ، د هغې په وجه به تاسو ناپاک شئ. (۲۱) د خپل اولاد يو کس هم د مولک بُت
دپاره مۀ ورکوئ چې د هغۀ په عبادت کښې استعمال شی ځکه چې په داسې کولو سره د
خپل خُدائ پاک د نوم سپکاوے کوئ. زۀ مالِک خُدائ يم. (۲۲) يو نر دې هم د بل نر
کس سره جنسی تعلقات نۀ ساتی، دا يو بد عمل دے. (۲۳) يو نر دې د يو ځناور سره زنا
کولو په وجه خپل ځان نۀ ناپاک کوی، يا يوه ښځه دې د يو ځناور سره د زنا کولو
کوشش نۀ کوی، دا يو گنده عمل دے. (۲۴) د دې عملونو په وجه خپل ځانونه مۀ ناپاکه
کوئ، ځکه چې غېرو قومونو داسې خپل ځانونه ناپاک کړل، هغه غېرقومونه چې مالِک
خُدائ به يې ستاسو نه مخکښې وشړی. (۲۵) د هغوئ عملونو هغه مُلک ناپاک کړو او
مالِک خُدائ هغه مُلک له سزا ورکړه چې خپل اوسېدونکی وشړی. (۲۶)-(۲۷) هغوئ دا
ټول حرام کارونه وکړل او هغه مُلک يې ناپاک کړو، خو چې تاسو داسې ونۀ کړئ. کۀ
هغه اِسرائيلے وی يا د پردی مُلک کس چې ستاسو سره اوسېږی، نو تاسو ټول به د
مالِک خُدائ په قانون او حُکمونو عمل کوئ، (۲۸) نو هغه مُلک به تاسو نۀ شړی، لکه
چې څنګه يې غېرقومونه وشړل کوم چې ستاسو نه مخکښې هلته اوسېدل. (۲۹) تاسو ته
پته ده چې هر څوک دا حرام کارونه وکړی نو هغه به نور د خُدائ پاک د خلقو نه نۀ شی
گڼلے.“ (۳۰) او مالِک خُدائ وفرمائيل، ”زۀ چې کوم حُکمونه درکړم په هغې عمل کوئ
او د هغه خلقو په رِواجونو پسې مۀ ځئ کوم چې ستاسو نه مخکښې په هغه مُلک کښې
اوسېدل، او د هغه غلطو کارونو کولو په وجه خپل ځانونه مۀ ناپاکه کوئ. زۀ مالِک
خُدائ ستاسو خُدائ پاک يم.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## اخلاقی او مذهبی قانون

۱۹ ۱ بيا مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل چې، ۲ ”د اِسرائيلو قوم ته ووايه،
مقدس اوسئ، ځکه چې زۀ مالِک خُدائ، ستاسو خُدائ پاک مقدس يم. ۳ ستاسو هر
يو کس دې د خپل مور او پلار عزت کوی او د سبت ورځ مانځئ، چې څنګه ما حُکم
درکړے دے. زۀ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يم. ۴ زما نه مۀ اوړئ او د بُتانو
عبادت مۀ کوئ، مجسمې مۀ جوړَوئ او مۀ يې عبادت کوئ. زۀ مالِک خُدائ ستاسو
خُدائ پاک يم. ۵ کله چې تاسو د سلامتیٔ نذرانې دپاره يو څناور حلالوئ، ما چې کوم
اصُول درته ښودلی دی د هغې خيال ساتئ او زۀ به هغه نذرانه قبلوم. ۶ چې په کومه
ورځ څناور حلال شی غوښه به يې هم په هغه ورځ يا ورپسې ورځ باندې خوړلے شی.
څۀ غوښه چې د دريمې ورځې پورې پاتې وی نو هغه به خامخا سوزولے شی، ۷ ځکه
چې دا ناپاکه ده او کۀ څوک دا وخوری، نو زۀ به هغه نذرانه قبوله نۀ کړم. ۸ هر
څوک چې دا وخوری نو ګناه به د هغۀ په غاړه وی ځکه چې د هغه څۀ سپکاوے يې
کړے دے چې مالِک خُدائ، ته وقف وُو، نو هغه به نور زما د خلقو نۀ شی ګڼلے. ۹
کله چې تاسو د خپلو پټو فصل ريبئ، نو فصل د پټو تر غاړو پورې مۀ ريبئ او چې کوم
وَږی د لَو نه پاتې وی نو د هغې ريبلو له واپس مۀ ورځئ. ۱۰ خپلو د انګورو باغونو ته
واپس مۀ ورځئ چې هغه انګور راټول کړئ کوم چې پاتې شوی وی يا غورزيدلی وی، دا
غريبانانو او مسافرو ته پرېږدئ. زۀ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يم. ۱۱ غلا مۀ
کوئ، دروغ مۀ وايئ او يو بل مۀ دوکه کوئ. ۱۲ زما په نوم د دروغو قسم مۀ خورئ
چې ستاسو د دې د پوره کولو اراده نۀ وی، دا به زما د نوم سپکاوے وی. زۀ مالِک
خُدائ ستاسو خُدائ پاک يم. ۱۳ خپل ګاونډی مۀ دوکه کوئ او د هغۀ نه غلا مۀ کوئ.
د يو مزدور مزدوری تر سحره پورې مۀ ايساروئ. ۱۴ يو کُوڼ کس ته ښېرې مۀ کوئ
او د يو ړوند په مخکښې داسې څۀ څيز مۀ ږدئ چې په هغې باندې تيندک وخوری. زما
نه يرېږئ، زۀ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يم. ۱۵ د عدالت په فيصلو کښې د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بې‌اِنصافۍ نه کار مۀ اخلئ، چې د يو غريب طرفدارى وکړئ يا د مالدار کس نه يرېږئ،
د خپل ګاونډى سره اِنصاف کوئ. ۱۶ د هيچا په حقله دروغ مۀ خوروئ او کله چې د
چا د ژوند مقدمه وى، کۀ هغه ستاسو د ګواهۍ په وجه بچ کېدے شى نو ګواهى ورکړئ.
زۀ مالِک خُدائ يم. ۱۷ د نورو خِلاف په زړۀ کښې کينه مۀ ساتئ، د هغوئ سره خپل
اختلافات ختم کړئ، نو چې د هغوئ په وجه ګناهګار نۀ شئ. ۱۸ د هيچا نه بدل مۀ
اخلئ يا د چا سره په زړۀ کښې کينه مۀ ساتئ، د خپل ګاونډى سره د خپل ځان په شان
مينه ساتئ. زۀ مالِک خُدائ يم. ۱۹ زما په حُکمونو عمل کوئ. مختلف قِسمه ځناور مۀ
پرېږدئ چې يو بل مال کړى. په يو پټى کښې دوه قِسمه تخم مۀ کَرئ. د دوه قِسمه تار نه
جوړې شوې جامې مۀ اغوندئ. ۲۰ کۀ يوه وينځه د يو سړى منلے شوى دويمه ښځه
وى خو چې لا اخستے شوې نۀ وى چې آزاده شى، نو کۀ يو بل سړے د هغې سره
څملى، هغوئ له به سزا ورکولے شى خو وژلے به نۀ شى، ځکه چې هغه يوه وينځه وى.
۲۱ هغه سړے به د مالِک خُدائ د مقدسې خيمې د دروازې خولې ته د ګناه د تاوان د
نذرانې په توګه يو ګډ راولى، ۲۲ او اِمام به د دې سره د پاکوالى کفاره ادا کړى چې د
هغه سړى ګناه لرې شى او خُدائ پاک به هغه معاف کړى. ۲۳ کله چې تاسو د کنعان
مُلک ته ورننوځئ او د مېوې هر قِسم ونه هم وکَرئ، نو داسې وګڼئ چې هغه مېوه د درېو
کالو پورې ناپاکه ده. په دې دوران کښې به تاسو هغه نۀ خورئ. ۲۴ په څلورم کال به
ټولې مېوې ما يعنې مالِک خُدائ ته په شکرانه کښې وقف کړئ. ۲۵ خو په پينځم کال
هغه مېوې خوړے شئ. کۀ تاسو دا هر څۀ وکړل، نو ستاسو ونې به زياتې مېوې ونيسى.
زۀ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يم. ۲۶ داسې غوښه مۀ خورئ چې وينه لا په کښې
وى. فال مۀ ګورئ او کوډې مۀ کوئ. ۲۷ د خپل سر ګېرچاپېره لاندې وېښتۀ مۀ کلوئ
او ږيره مۀ لنډوئ. ۲۸ د مړى په غم کښې خپل بدن مۀ غوڅوئ او مۀ په کښې داغونه
جوړَوئ. زۀ مالِک خُدائ يم. ۲۹ د خپلو لوڼو نه کنجرې مۀ جوړوى او په دې کار کولو
سره د د هغوئ بې‌عزتى مۀ کوئ، ګنې نورو معبودانو ته به ور واوړى او هغه مُلک به د
بدعملۍ نه ډک شى. ۳۰ د سبت ورځ مانځئ او د هغه ځائ عزت کوئ چې چرته زما

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عبادت کېږی. زهٔ مالِک خُدائ یم. ۳۱ د هغه خلقو نصیحت اورېدلو له مهٔ ورځئ چې د
مړو د روحونو مشورې ورکوی. کهٔ تاسو داسې وکړل نو ناپاک به شئ. زهٔ مالِک خُدائ
ستاسو خُدائ پاک یم. ۳۲ د بوډاګانو په مخکښې پاڅېږئ او د مشرانو عزت کوئ. زما
نه یرېږئ، زهٔ مالِک خُدائ یم. ۳۳ د هغه مسافرو سره بد سلوک مهٔ کوئ کوم چې
ستاسو په مُلک کښې اوسېږی. ۳۴ د هغوئ سره د یو اِسرائیلی په شان سلوک کوئ او
د هغوئ سره د خپل ځان په شان مینه ساتئ. یاد ساتئ، تاسو هم په یو وخت کښې د
مِصر په مُلک کښې مسافر وئ. زهٔ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک یم. ۳۵ د ناپ،
تول، یا د مِقدار د غلطو حسابونو لګولو په وجه هیڅ څوک مهٔ غولوئ. ۳۶ صحیح تلې،
صحیح وزنونه او صحیح ناپونه استعمالوئ. زهٔ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک یم او ما
تاسو د مِصر مُلک نه راوویستلئ. ۳۷ زما ټول قانون او حُکمونه منئ. زهٔ مالِک خُدائ
یم.“

## د ګناهونو دپاره سزاګانې

۲۰ ۱ بیا مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائیل چې، ۲ ”اِسرائیلو ته ووایه، کهٔ ستاسو
یو خپل کس یا یو مسافر چې ستاسو سره اوسېږی هغه د خپلو ماشومانو نه یو ماشوم
مولک بُت ته پېش کړی نو ټول قوم به هغه سنګسار کړی او مړ به یې کړی. ۳ کهٔ
څوک د خپلو ماشومانو نه یو ماشوم مولک بُت ته ورکړی او زما مقدسه خېمه ناپاکه
کړی او زما د مقدس نوم سپکاوے وکړی، نو زهٔ به ترې نه مخ واړوم او هغه به نور زما
د خلقو نه نهٔ شی ګڼلے. ۴ خو کهٔ قوم په هغه کس باندې ځان ناجانه کړی چې څهٔ یې
کړی وی او هغه ونهٔ وژنی، ۵ نو زهٔ به په خپله د هغه کس نه، د هغهٔ د ټولې خاندان نه
او د هغه ټولو نه مخ واړوم چې زما نافرمانی وکړی او د مولک بُت عبادت وکړی. زهٔ به
هغوئ نور خپل خلق نه ګڼم. ۶ کهٔ څوک د هغه خلقو نصیحت اورېدلو له ورځی چې
د مړو د روحونو مشورې ورکوی، نو زهٔ به د هغهٔ نه مخ واړوم او زهٔ به هغه نور د خپلو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خلقو نه نهٔ ګنم. ٧ خپل ځانونه وقف کړئ او مقدس اوسئ، ځکه چې زهٔ مالِک خُدائ
ستاسو خُدائ پاک یم. ٨ زما قانون ومنئ، ځکه چې زهٔ مالِک خُدائ یم او تاسو
مقدس کوم.“ ٩ مالِک خُدائ دا اصُول وښودل. کهٔ څوک خپل مور یا پلار ته ښېرې
وکړی نو هغه به وژلے شی، او خُون به يې په خپله غاړه وی. ١٠ کهٔ يو سړے د بل
سړی د ښځې سره زنا وکړی نو دوئ دواړه به وژلے شی. ١١ کهٔ يو سړے د پلار د
ښځې سره څملی او د پلار سپکاوے وکړی، نو هغه سړے او ښځه دواړه به وژلے شی.
د هغوئ خُون په خپله غاړه دے. ١٢ کهٔ يو سړے د خپلې اِنږور سره څملی، نو هغوئ
دواړه دې ووژلے شی. هغوئ ډېر غلط کار کړے دے او خُون يې په خپله غاړه دے.
١٣ کهٔ يو سړے د بل سړی سره جنسی تعلقات وساتی، هغوئ يو شرمناک کار کړے
دے او دواړه به ووژلے شی. د هغوئ خُون په خپله غاړه دے. ١٤ کهٔ يو سړے يوه
ښځه او د هغې مور وادهٔ کړی، نو هغوئ درې واړه به په اور کښې سوزولے شی ځکه
چې هغوئ ډېر بد عمل کړے دے، ستاسو په مينځ کښې به د داسې کار اجازت نهٔ وی.
١٥ کهٔ يو سړے د ځناور سره زنا وکړی، نو هغه سړے او ځناور به وژلے شی. ١٦
کهٔ يوه ښځه د ځناور سره د غلط کار کولو کوشش وکړی، نو هغه او ځناور به ووژلے
شی. د هغوئ خُون په خپله غاړه دے. ١٧ کهٔ يو سړے د خپلې سکه يا ناسکه خور
سره وادهٔ وکړی او هغوئ د يو بل سپکاوے وکړی، نو دا يو د بې‌شرمئ کار دے او
هغوئ دې د خپلو خلقو نه وشړلے شی، هغهٔ د خپلې خور سپکاوے کړے دے او هغوئ
ته دې د خپلو بدو سزا مِلاو شی. ١٨ کهٔ يو سړے د يوې ښځې سره د هغې د مياشتنئ
بيمارئ په دوران کښې څملی، نو هغوئ دواړه به د قوم نه شړلے شی، ځکه چې هغوئ د
پاکوالی په حقله اصُول مات کړی دی. ١٩ کهٔ يو سړے د خپلې مور خور سره يا د پلار
خور سره څملی، نو هغوئ ته دې خامخا د خپلو بدو سزا مِلاو شی. ٢٠ کهٔ يو سړے د
خپلې ترهٔ ښځې سره څملی، نو هغه د خپل ترهٔ سپکاوے کوی، نو ذمه واری به د هغوئ
په خپله غاړه وی، او بې‌اولاده به مړهٔ شی. ٢١ کهٔ يو سړے خپله ورنداره وادهٔ کړی او
ورور يې ژوندے وی، نو هغوئ به بې‌اولاده مړهٔ شی. هغهٔ يو ناپاکه کار کړے دے او هغهٔ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د خپل ورور سپکاوے کړے دے. ۲۲ مالِک خُدائ وفرمائيل، ”زما ټول قانون او
حُکمونه ومنئ، نو داسې د کنعان مُلک نه به ونهٔ شړلے شئ کوم مُلک له چې زهٔ تاسو
راولم. ۲۳ د هغه خلقو په رِواجونو پسې مهٔ ځئ کوم چې هلته اوسيږی، هغه غېرقومونه
به ترې نه وياسم نو تاسو به هغه مُلک ته ورننوځئ. زهٔ د هغوئ د ټولو بدو عملونو په
وجه د هغوئ نه کرکه کوم. ۲۴ خو ما ستاسو سره وعده کړې ده چې هغه مُلک
ستاسو خپل شی چې زرخيز او آباد وی او هغه به زهٔ تاسو له درکړم. زهٔ مالِک خُدائ
ستاسو خُدائ پاک يم او ما تاسو د نورو قومونو نه جدا کړی يئ. ۲۵ نو تاسو خامخا د
حلالو او حرامو څناورو او مارغانو په مينځ کښې فرق وکړئ. حرام څناور او حرام
مارغان مهٔ خورئ. ما ورته ناپاک وئيلی دی او چې تاسو دا وخورئ نو ناپاک به شئ.
۲۶ تاسو به مقدس شئ او صِرف زما به شئ، ځکه چې زهٔ مالِک خُدائ يم او زهٔ مقدس
يم. ما تاسو د نورو قومونو نه جدا کړی يئ چې تاسو صِرف زما اوسئ. ۲۷ هر يو
سړے يا ښځه چې د مړو يا د پيريانو مشورې ورکوی هغه دې سنګسار کړے شی چې
مړهٔ شی، ځوک چې دا کار کوی نو هغه به د خپل خُون ذمه وار وی.“

## د اِمامانو پاکوالے

۲۱ ۱ بيا مالِک خُدائ موسیٰ ته حُکم وکړو چې د هارون د خاندان اِمامانو ته
وواېه، ”کله چې د هغوئ يو خپلوان مړ شی نو د هغهٔ په جنازه کښې شريکېدو په وجه به
اِمام خپل ځان نهٔ ناپاک کوی، ۲ خو د دې نه بغېر چې هغه يې نزدې خپلوان وی لکه
مور، پلار، زوئ، لور، ورور، ۳ يا پېغله خور چې د هغهٔ په کور کښې اوسيږی. ۴
هغه دې د هغه چا په مرګ کښې خپل ځان ناپاک نهٔ کړی چې د وادهٔ په ذريعه د هغهٔ
خپلوان شوے وی. ۵ يو اِمام به هم د خپل سر يوه حِصه هم نهٔ کلوی، نهٔ به ږيره
لنډوی او نهٔ به خپل بدن غوڅوی چې دا ښکاره کړی چې غم کوی. ۶ هغه به مقدس
وی او چې زما نوم سپک نهٔ کړی. هغه ما ته په اور باندې تيارېدونکې نذرانه پيش کوی،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو هغه دې خامخا مقدس وى. ۷ يو اِمام به د کنجرې ښځې سره واده نۀ کوى يا چې
پېغله نۀ وى او يا طلاقه شوې وى ځکه چې هغه مقدس دے. ۸ خلق به خامخا اِمام
مقدس گڼى، ځکه چې هغه ما ته په اور باندې تيارېدونکې نذرانه پېش کوى. زۀ مالِک
خُدائ يم، زۀ مقدس يم او زۀ خپل خلق مقدس کوم. ۹ کۀ د يو اِمام لور کنجره شى،
هغه د خپل پلار سپکاوے کوى، نو هغه به خامخا په اور کښې سوزولے شى. ۱۰ د
مشر اِمام په سر باندې د غوړولو تېل اچولے شوى دى او هغه پاک شوے دے چې د
اِمامانو لِباس واغوندى، نو هغه به خپل وېښتۀ ببر نۀ پرېږدى نۀ به شلېدلې جامې اغوندى
چې دا ښکاره کړى چې هغه غم ژړا کوى. ۱۱-۱۲ هغه ما ته وقف شوے دے او هغه به
خپل ځان نۀ ناپاک کوى او نۀ به زما د مقدسې خېمې بې‌عزتى کوى چې هغه پرېږدى او
هلته لاړ شى چې چرته مړے وى، تر دې پورې کۀ هغه يې خپل مور او پلار هم وى. ۱۳
هغه به د يوې داسې جينۍ سره واده کوى چې پاکه پېغله وى، ۱۴ کونډه يا طلاقه شوې
ښځه يا يوه کنجره ښځه به نۀ واده کوى. هغه دې صِرف د يوې داسې جينۍ سره واده
کوى چې پاکه پېغله وى او هغه يې د خپلې قبيلې نه وى. ۱۵ گنې، د هغۀ بچى به ناپاک
وى، په کار دى چې هغوئ پاک وى. زۀ مالِک خُدائ يم او ما هغه د اِمام په توگه غوره
کړے دے.“ ۱۶ مالِک خُدائ موسىٰ ته حُکم وکړو چې، ۱۷ ”هارون ته ووايه، ستا د
اولاد هغه يو کس به هم په اور تيارېدونکې نذرانه ما ته نۀ پېش کوى، کوم چې په بدن
کښې څۀ عېب لرى. په دې خبرو به په راتلونکى ټولو وختونو کښې عمل کېږى. ۱۸
داسې يو سړے هم دا نذرانه نۀ شى پېش کولے چې هغه په بدن کښې داسې عېب لرى
لکه څوک چې ړوند، گوډ، کوړ مخے يا معذُور وى، ۱۹ څوک چې په لاس يا په پښه
گوډ وى، ۲۰ چې په ملا يې کُب وى يا مندرے وى، څوک چې د سترگو يا د څرمنې
څۀ بيمارى لرى، او يا چې خصى وى. ۲۱ د هارون د اولاد داسې يو اِمام هم ما ته په
اور تيارېدونکې نذرانه نۀ شى پېش کولے چې په بدن کښې څۀ عېب لرى. ۲۲ خو داسې
کس په اور باندې تيارېدونکې نذرانه خوړلے شى چې ما ته پېش کېږى، يعنې هغه دواړه
نذرانې په اور تيارېدونکې مقدسه نذرانه او په اور تيارېدونکې ډېره مقدسه نذرانه، ۲۳ خو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چې هغه په بدن کښې څۀ عيب لرى، نو هغه دې مقدسې پردې ته او قربانګاه ته
نزدې نۀ راځى. هغه دې دا مقدس ځايونه نۀ ناپاکه کوى، ځکه چې زۀ مالِک خُدائ يم او
زۀ هغوئ مقدس کوم.“ ٢۴ نو دا هغه څۀ دى چې موسىٰ هارون ته، د هارون زامنو ته
او ټولو بنى اِسرائيلو ته وفرمائيل.

## خُدائ پاک ته قبليدونکې نذرانې

٢٢ ١ بيا مالِک خُدائ موسىٰ ته وفرمائيل چې، ٢ ”هارون او د هغۀ زامنو ته
ووايه، تاسو زما د مقدس نوم سپکاوے مۀ کوئ، او د مقدسو نذرانو احترام کوئ کومې
چې اِسرائيل ما ته وقف کوى. زۀ مالِک خُدائ يم. ٣ هغوئ ته ووايه چې کله ستاسو د
اولاد يو کس ناپاک وى او مقدسو نذرانو ته نزدې راځى کومې چې اِسرائيلو ما ته وقف
کړې وى، هغه دې بيا هيڅکله په قربانګاه کښې خِدمت ونۀ کړى. په راتلونکى ټولو
وختونو کښې به په دې عمل کوئ. زۀ مالِک خُدائ يم. ۴ د هارون د اولاد يو کس هم
دا مقدسې نذرانې نۀ شى خوړلے چې په هغۀ د جذام بيمارى وى يا د هغۀ د بدن نه څۀ
وځى چې ترڅو پورې هغه پاک شوے نۀ وى. هر هغه اِمام ناپاک دے چې هغه داسې څۀ
څيز له لاس وروړى چې هغه د يو مړى سره د لګېدو په وجه ناپاک وى يا د هغۀ د ذکر
نه اوبۀ وځى ۵ يا کۀ هغه يو ناپاک ځناور يا ناپاک کس له لاس وروړى. ۶ هر يو
اِمام چې ناپاک شى نو هغه به تر ماښامه پورې ناپاک وى، خو بيا به هم هغه مقدسې
نذرانې نۀ شى خوړلے چې ترڅو پورې يې غسل نۀ وى کړے. ٧ چې کله نمر پرېوځى
نو هغه پاک دے او بيا هغه مقدسې نذرانې خوړلے شى، کومې چې د هغۀ خوراک دے.
٨ هغه به د داسې ځناور غوښه نۀ خورى چې په خپل مرګ مړ وى يا ځنګلى ځناورو
وژلے وى، په دې به هغه ناپاک شى. زۀ مالِک خُدائ يم. ٩ ټول اِمامان به هغه اصُول
منى کوم چې ما ښودلى دى. ګنې، هغوئ به ګناهګار شى او مړۀ به شى، ځکه چې هغوئ
مقدسو اصُولو ته سپک کتلى دى. زۀ مالِک خُدائ يم او زۀ هغوئ مقدس کوم. ١٠

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

صِرف د اِمامانو د خاندان کس دا نذرانې خوړلے شی، بل څوک يې نۀ شی خوړلے کۀ
هغه د اِمام کره مېلمه وی يا يې مزدور وی. ١١ خو د اِمام غلامان، چې هغه يې په پېسو
اخستی وی يا يې په خپل کور کښې پېدا شوی وی، نو هغوئ هغه خوراک خوړلے شی
کوم چې اِمام ته ملاوېږی. ١٢ کۀ د اِمام لور د يو داسې سړی سره واده وکړی چې هغه
اِمام نۀ وی نو هغه ښځه به دا مقدسې نذرانې نۀ شی خوړلے. ١٣ خو کۀ د هغۀ لور
کونډه يا طلاقه شوې وی چې د هغې بچی نۀ وی او هغه واپس راغلې وی او د پلار په
کور کښې اوسيږی نو هغه دا خوراک خوړلے شی چې کوم يې پلار ته د اِمام په توګه
مِلاو شوے وی. صِرف د اِمامانو د خاندان کس دا خوراک خوړلے شی. ١٤ کۀ يو
کس د اِمامانو د خاندان نه نۀ وی او د مقدسې نذرانې نه څۀ په غلطئ سره وخوری، نو
هغه به خامخا اِمام ته د دې پوره قيمت او شل فيصده تاوان هم ورکوی. ١٥ اِمامان به
د دې نذرانو سپکاوے نۀ کوی، ١٦ چا ته چې د مقدسو نذرانو د خوړلو اجازت نۀ وی
نو هغه خلق به ورته نۀ شی پرېښودلے، کۀ داسې وشی نو د دې په وجه به هغه کس
ګناهګار شی او سزا به ورته مِلاو شی. زۀ مالِک خُدائ يم او زۀ نذرانې مقدسې کوم.“
١٧ بيا مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل چې، ١٨ ”هارون او د هغۀ زامنو ته او ټولو
اِسرائيلو ته دا اصُول وښايه. کله چې يو اِسرائيلے يا په بنی اِسرائيلو کښې اوسېدونکے
مسافر يوه سوزېدونکې نذرانه پېش کوی، کۀ هغه يوه منښته يا رضاکارانه نذرانه وی، نو
په هغه څناور کښې دې هيڅ عيب نۀ وی. ١٩ دا څناور به خامخا نر وی، ګډ يا چېلے
چې هيڅ عيب په کښې نۀ وی د دې دپاره چې دا نذرانه ستاسو نه قبوله شی. ٢٠ کۀ
تاسو يو داسې څناور پېش کوئ چې څۀ عيب په کښې وی، نو مالِک خُدائ به دا نۀ
قبلوی. ٢١ کله چې څوک مالِک خُدائ ته د سلامتئ نذرانه پېش کوی، کۀ هغه يوه
منښته يا رضاکارانه نذرانه وی، نو په هغه څناور کښې به څۀ عيب نۀ وی، دا د دې دپاره
چې قبوله شی. ٢٢ مالِک خُدائ ته داسې څناور مۀ پېش کوئ چې ړوند، ګوډ، يا ناسور
شوے زخم په کښې وی، يا يې په څرمن کښې پمنوالے يا خارښت وی. داسې څناور په
قربانګاه باندې په اور تيارېدونکې نذرانې په توګه مۀ پېش کوئ. ٢٣ د رضاکارانه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نذرانې په توګه تاسو داسې څناور پېش کولے شئ چې هغه لنډ وی یا کۀ هغه صحیح
شکل نۀ لری، خو دا به په منښته کښې قبلېدونکے نۀ وی. ۲۴ مالِک خُدائ ته داسې
څناور مۀ پېش کوئ چې په ټکولو، پرې کولو، زخمی کولو یا ویستلو په وجه خصی
شوے وی. ستاسو په مُلک کښې به د دې قِسم نذرانو اجازت نۀ وی. ۲۵ په اور
تیارېدونکې نذرانې په توګه داسې څناور مۀ پېش کوئ چې د یو پردی سړی نه اخستے
شوے وی. داسې څناور عیبژن ګڼلے شی او قبلېدونکی نۀ وی. ۲۶-۲۷ کله چې یو
سخے، ګډُورے یا د چېلۍ بچے پېدا شی، نو دا به اووۀ ورځې د مور نه نۀ شی لرې
کولے، خو د هغې نه پس دا به په اور تیارېدونکې نذرانې په توګه قبلېدونکے وی. ۲۸
یوه غوا او د هغې سخے یا ګډه او د هغې ګډُورے یا یوه چېلۍ او د هغې بچے په یوه
ورځ مۀ حلالوئ. ۲۹ کله چې تاسو مالِک خُدائ ته د شکرانې قربانی پېش کوئ، نو په
هغه اصُولو عمل کوئ نو داسې به تاسو قبول شئ، ۳۰ هم په هغه ورځ باندې دا وخورئ
او د دې هیڅ هم بلې ورځې ته مۀ پرېږدئ.“ ۳۱ مالِک خُدائ وفرمائیل، ”زما حُکمونه
منئ، زۀ مالِک خُدائ یم. ۳۲ زما د مقدس نوم سپکاوے مۀ کوئ، ټول اِسرائیلیان دې
دا اِقرار وکړی چې زۀ مقدس یم. زۀ مالِک خُدائ یم او زۀ تاسو مقدس کوم، ۳۳ او ما
تاسو د مِصر مُلک نه راوویستلئ چې ستاسو خُدائ پاک شم. زۀ مالِک خُدائ یم.“

## مذهبی اخترونه

۲۳ ۱ بیا مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائیل چې، ۲ ”بنی اِسرائیلو ته د مذهبی
اخترونو دپاره دا اصُول وښایه چې په دې کښې هغوئ د عبادت دپاره راغونډ شی. ۳
ستاسو سره شپږ ورځې شته چې خپل کار په کښې کولے شئ، خو یاد ساتئ اوومه ورځ
د سبت ورځ ده، چې د آرام دپاره ده. په دې ورځ کار مۀ کوئ او د عبادت دپاره
راغونډېږئ. د سبت ورځ د مالِک خُدائ ده، چې تاسو چرته هم اوسېږئ. ۴ د دې
اخترونو اِعلان په مقرر شوو وختونو باندې کوئ.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د فسحې کولو اختر

٥ د فسحې اختر، د د اولنۍ مياشتې د څوارلسمې ورځې د نمرپرېواتو نه شروع
کيږى. ٦ په پينځلسمه ورځ د پتيرې روټۍ اختر شروع کيږى او اووۀ ورځې به تاسو
خمبيره روټۍ نۀ خورئ. ٧ د دې ورځو په اوله ورځ به تاسو د عبادت دپاره
راغونډيږئ او هغه يو کار هم مۀ کوئ چې تاسو يې هره ورځ کوئ. ٨ اووۀ ورځې
مالِک خُدائ ته په اور تيارېدونکې نذرانې پېش کړئ. په اوومه ورځ به تاسو بيا د عبادت
دپاره راغونډ شئ، خو هغه يو کار به هم نۀ کوئ کوم چې تاسو هره ورځ کوئ. ٩-١٠
کله چې تاسو هغه زمکې له ورشئ کومه چې مالِک خُدائ تاسو له درکوى او تاسو خپل
فصل وريبئ، نو وړومبے ګېډے اِمام له وروړئ. ١١ هغه به دا مالِک خُدائ ته د يوې
خاص نذرانې په توګه پېش کړى، تر څو چې تاسو قبول شئ. اِمام به دا د سبت پسې په
بله ورځ پېش کړى. ١٢ په کومه ورځ چې تاسو د فصل نذرانه پېش کوئ، نو د يو کال
ګډُورے هم د سوزېدونکې نذرانې په توګه قربانى کړئ چې هيڅ عيب په کښې نۀ وى. ١٣
تاسو د دې سره دوه کلو ښۀ اوړۀ چې د زيتُونو تيل ورسره ګډ وى په اور تيارېدونکې
نذرانې په توګه پېش کړئ. د دې نذرانې خوشبوئى په مالِک خُدائ باندې ښۀ لګى. تاسو د
دې سره يو ليټر د ميو نذرانه هم پېش کړئ. ١٤ ترڅو پورې چې تاسو دا نذرانه خُدائ
پاک ته نۀ وى راوړې نو تر هغې د نوې غلې روټۍ، وريتې شوې يا کچه دانې مۀ خورئ.
په راتلونکى ټولو وختونو کښې ستاسو ټول اولاد به دا اصُول منى.

## د لَو کولو اختر

١٥ سبت پسې ورځې نه پوره اووۀ هفتې وشمېرئ يعنې د هغه ورځ نه په کومه ورځ چې
تاسو د خپل فصل ګېډے مالِک خُدائ ته د پېش کېدو دپاره راوړئ. ١٦ د اوؤم سبت د
ورځې نه پس، په پنځوسمه ورځ، مالِک خُدائ ته د نوى فصل يوه بله نذرانه پېش کړئ.
١٧ هر يو خاندان دې دوه دوه روټۍ راوړى او دا دې مالِک خُدائ ته د خاص تُحفې په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

توګه پېش کړی. هره يوه روټۍ دې خمبيره شوې د دوه کلو ښو اوړو نه پخه شوې وی
او دا به مالِک خُدائ ته د وړومبی رېبلے شوی فصل د نذرانې په توګه پېش کېږی. ﴿١٨﴾
او قوم دې د دې روټۍ سره اووۀ يو کلن ګډُوری، يو غوَيے او دوه ګډان پېش کړی، چې
هيڅ عيب په کښې نۀ وی. دا به د سوزېدونکې نذرانې په توګه، سره د غلې د نذرانې او د
ميو د نذرانې سره مالِک خُدائ ته پېش کېږی. د دې نذرانې خوشبوئی په مالِک خُدائ
باندې ښۀ لګی. ﴿١٩﴾ يو چېلے د ګناه د نذرانې په توګه او دوه يو کلن ګډُوری د سلامتۍ د
نذرانې په توګه هم پېش کړئ. ﴿٢٠﴾ اِمام به روټۍ د دوو ګډورو سره د اِمامانو دپاره د
خاص تُحفې په توګه هم پېش کړی. دا نذرانې مقدسې دی. ﴿٢١﴾ په هغه ورځ هغه يو کار
هم مۀ کوئ چې تاسو يې هره ورځ کوئ او د عبادت دپاره راغونډېږئ. ستاسو اولاد چې
چرته هم اوسيږی دا اصُول دې په راتلونکی ټولو وختونو کښې منی. ﴿٢٢﴾ کله چې تاسو د
خپلو پټو فصل رېبئ، نو فصل د پټو تر غاړو پورې مۀ رېبئ او چې کوم وَړی پاتې شی نو
د هغې رېبلو له واپس مۀ ورځئ، دا د غريبانانو خلقو او مسافرو دپاره پرېږدئ. زۀ مالِک
خُدائ ستاسو خُدائ پاک يم.

## د نوی کال اختر

﴿٢٣﴾-﴿٢٤﴾ د اوومې مياشتې په وړومبۍ ورځ د آرام خاص ورځ مانځئ او چې کله بيګل
وغږېږی نو د عبادت دپاره راغونډ شئ. ﴿٢٥﴾ مالِک خُدائ ته يوه په اور تيارېدونکې
نذرانه پېش کړئ او هغه يو کار هم مۀ کوئ چې تاسو يې هره ورځ کوئ.“

## د کفارې ورځ

﴿٢٦﴾ بيا مالِک خُدائ موسىٰ ته وفرمائيل چې، ﴿٢٧﴾ ”د دې اوومې مياشتې لسمه ورځ د
کفارې ده، دا به ستاسو دپاره يوه مقدسه اجتماع وی. تاسو به روژه نيسئ او مالِک
خُدائ ته په اور تيارېدونکې نذرانه پېش کوئ. ﴿٢٨﴾ په هغه ورځ هيڅ کار مۀ کوئ، ځکه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې هغه د کفارې ورځ ده او د مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک وړاندې ستاسو کفاره ادا
کيږى. ۲۹ هر څوک چې هم په هغه ورځ څۀ وخورى نو هغه به نور د خُدائ پاک د
خلقو نه نۀ شى ګڼلے. ۳۰ او کۀ هر چا هم په هغه ورځ څۀ کار وکړو، نو زۀ به په خپله
هغه تباه کړم. ۳۱ ستاسو اولاد چې چرته هم اوسيږى دا اصُول د هغوئ دپاره دى. ۳۲
د هغې مياشتې د نهمې ورځې د نمرپريواتو نه د لسمې ورځې د نمرپريواتو پورې دا
خاص ورځ مانځئ، په دې دوران کښې تاسو روژه نيسئ.

## د جونګړو اختر

۳۳-۳۴ د جونګړو اختر د اوومې مياشتې په پينځلسمه ورځ شروع کيږى او دا به اووۀ
ورځې وى. ۳۵ د دې ورځو په وړومبۍ ورځ د عبادت دپاره راغونډ شئ او هغه يو کار
هم مۀ کوئ چې تاسو يې هره ورځ کوئ. ۳۶ اووۀ ورځې تاسو هره ورځ يوه په اور
تيارېدونکې نذرانه پېش کوئ. په اتمه ورځ بيا د عبادت دپاره راغونډ شئ او په اور
تيارېدونکې نذرانه پېش کړئ. دا د عبادت ورځ ده او چې هيڅ کار په کښې ونۀ کړئ. ۳۷
دا مذهبى اخترونه دى چې تاسو يې د مالِک خُدائ په درناوى کښې کوئ چې د عبادت
دپاره په يو ځائ راغونډېږئ او په اور تيارېدونکې نذرانې، سوزېدونکې نذرانې، د غلې
نذرانې، قربانۍ او د ميو نذرانې په کښې پېش کوئ، چې په خپله خپله ورځ پېش کيږى.
۳۸ دا اخترونه د عامو سبت د ورځو نه علاوه دى او دا نذرانې ستاسو د عامو تُحفو نه
علاوه دى، ستاسو د منښتې پوره کېدلو نذرانو او ستاسو د هغه رضاکارانه نذرانو نه چې
تاسو يې مالِک خُدائ له ورکوئ. ۳۹ کله چې تاسو د خپلو پټو نه فصل ورېبئ، نو اووۀ
ورځې دا اختر کوئ، چې د اوومې مياشتې په پينځلسمه ورځ باندې شروع کيږى. اوله
ورځ او اتمه ورځ به د آرام کولو خاص ورځې وى. ۴۰ په هغه ورځ د خپلو ونو نه ډېره
ښۀ ميوه وشوکوئ، د کجورو ښانګې او د پاڼو والا د ونو ښانګې او د سيند د غاړې نه د
خاروَلو ونې واخلئ او د مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک په درناوى کښې اختر وکړئ.
۴۱ دا اووۀ ورځې کوئ. ستاسو اولاد به دا اصُول په راتلونکى ټولو وختونو کښې منى.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴۲ ټول اِسرائيل به اووهٔ ورځې په جونګړو کښې اوسيږی، ۴۳ چې ستاسو اولاد ته دا
پته ولګی چې مالِک خُدائ اِسرائيليان دې ته جوړ کړل چې په جونګړو کښې اوسيږی
چې کله يې هغوئ د مِصر مُلک نه راوويستل. هغه مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک
دے.“ ۴۴ نو داسې موسیٰ بنی اِسرائيلو ته دا اصُول وښودل چې د مالِک خُدائ په
درناوی کښې مذهبی اخترونه وکړی.

## د ډيوو ساتنه کول

۲۴ ۱ بيا مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل چې، ۲ ”بنی اِسرائيلو له حُکم ورکړه
چې د ډيوو دپاره ډير ښهٔ سوچه د زيتُونو تيل راوړی کومې چې په مقدسه خيمه کښې
دی، نو چې هر وخت رڼا وی. ۳ هارون به هر ماښام دا ډيوې بلوی او تر سحره پورې
به يې بلې ساتی، چې د مالِک خُدائ په حضور کښې د پردې نه بهر د لوظ صندوق ته
مخامخ دی، دا ډيوټ په زيات مقدس ځائ کښې دے. دا اصُول دې په راتلونکی ټولو
وختونو کښې منلے شی. ۴ هارون به د هغه ډيوو خيال ساتی کومې چې د سوچه
سرو زرو په ډيوټ باندې دی او دې ته به پام کوی چې دا د مالِک خُدائ په حضور
کښې هر وخت بليږی.

## خُدائ پاک ته پيش کړے شوې روټۍ

۵ دولس کلو ښهٔ اوړهٔ واخله او دولس روټۍ ترې نه پخې کړه. ۶ په دوه ډېرو کښې
يې په هغه مېز باندې کېږده چې د سوچه سرو زرو پترې ورباندې خېژولے شوے دے،
کوم چې د مالِک خُدائ په حضور کښې دے او چې په هر ډيری کښې شپږ شپږ روټۍ
وی. ۷ په هر ډيری باندې څهٔ سوچه لوبان واچوه، دا به مالِک خُدائ ته په اور
تيا ريدونکې نذرانې د يوې نښې په شان وی چې د روټۍ په ځائ پيش کيږی. ۸ د هر

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سبت په ورځ په راتلونکو ټولو وختونو کښې، روټۍ دې خامخا د مالِک خُدائ په حضور
کښې کېښودلې شی. د بنی اِسرائيلو همېشه دپاره دا لوظ دے. ۹ دا روټۍ د هارون او
د هغهٔ د اولاد ده او هغوئ به دا په يو مقدس ځائ کښې خوری، ځکه چې دا د اِمامانو
دپاره مالِک خُدائ ته په اور تيا رېدونکې نذرانې يوه ډېره مقدسه برخه ده.“

## د خُدائ پاک او د مخلوق د احترام په حقله قانون

۱۰-۱۱ يو سړے وو چې د هغهٔ پلار مِصرے او مور يې اِسرائيلۍ وه چې د هغې نوم
سلوميت وو او د دان د قبيلې د دِبری لور وه. دې سړی په خېمو کښې د يو اِسرائيلی
سره جګړه وکړه. هغهٔ په کنځلو کښې د خُدائ پاک د نوم بې‌عزتی وکړه، نو هغوئ هغه
موسیٰ له بوتلو، ۱۲ هغه يې قيد کړو او مالِک خُدائ ته يې اِنتظار کولو چې هغوئ ته
وښائی چې د هغهٔ سره څهٔ وکړی. ۱۳ مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل چې، ۱۴ ”دا
سړے د خېمو نه بهر بوځئ. هر چا چې د هغهٔ کنځل اورېدلی وی نو هغه به خپل لاس د
هغه سړی په سر د ګواهۍ ورکولو دپاره کېږدی او بيا به ټول قوم هغه سنګسار کړی.
۱۵ بيا اِسرائيلو ته ووايه چې هر څوک هم خُدائ پاک ته کنځل وکړی نو هغهٔ ته به
خامخا د خپلو بدو سزا مِلاو شی ۱۶ او ويه وژلے شی. هر يو اِسرائيلے يا د پردی
مُلک کس چې ستاسو سره اوسيږی چې هغه مالِک خُدائ ته کنځل وکړی نو ټول قوم
دې هغه ووژنی. ۱۷ هر څوک چې قتل وکړی نو هغه به وژلے شی، ۱۸ او هر څوک
چې د بل چا يو ځناور ووژنی نو تاوان به يې خامخا ورکوی. دا اصُول د ژوند په بدل
کښې د ژوند والا دی. ۱۹ کهٔ څوک يو بل کس زخمی کړی، هغهٔ چې څهٔ هم کړی وی
نو هم هغه شان عمل به ورسره کيږی. ۲۰ کهٔ هغه يو هډوکے مات کړی، نو د هغهٔ يو
هډوکے به ماتولے شی، کهٔ هغه يوه سترګه وباسی نو د هغهٔ يوه سترګه به ويستلے شی،
کهٔ هغه يو غاښ مات کړی، نو د هغهٔ يو غاښ به ماتولے شی. هغه چې څنګه هم بل کس
زخمی کړی نو په بدل کښې به د هغهٔ سره هم هغه عمل کيږی. ۲۱ هر څوک چې يو
ځناور ووژنی نو تاوان به يې ورکوی، خو هر څوک چې يو انسان ووژنی نو هغه به

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ووژلے شی. ۲۲ دا قانون ستاسو د ټولو دپاره دے، کۀ هغه اِسرائيلے وی يا د پردی
مُلک کس چې ستاسو سره اوسيږی، ځکه چې زۀ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يم.“
۲۳ کله چې موسىٰ بنی اِسرائيلو ته دا وفرمائيل، نو هغوئ هغه سړے د خېمو نه بهر
بوتلو چا چې کنځل کړی وُو او سنګسار يې کړو. نو بنی اِسرائيلو هم هغه شان وکړل چې
څنګه مالِک خُدائ موسىٰ له حُکم ورکړے وو.

## اوۀم کال

۲۵ ۱ بيا مالِک خُدائ د سينا په غرۀ باندې موسىٰ ته وفرمائيل او حُکم يې ورکړو
چې، ۲ ”بنی اِسرائيلو ته دا اصُول وښايه. کله چې تاسو هغه مُلک ته ورننوځئ چې
مالِک خُدائ يې تاسو له درکوی، د مالِک خُدائ د درناوی دپاره په هر اوۀم کال تاسو
هغه زمکه مۀ کَرئ. ۳ شپږ کاله به تاسو خپل پټی وکَرئ، په باغونو کښې به د انګورو
ځانګې قينچی کړئ او فصلونه به راغونډ کړئ. ۴ خو په اوۀم کال دې زمکه شاړه
پاتې شی. دا به مالِک خُدائ ته وقف شوے کال وی. خپل پټی مۀ کَرئ او په خپلو باغونو
کښې د انګورو ځانګې مۀ قينچی کوئ. ۵ هغه فصل مۀ ريبئ چې د کَرلو نه بغير په
خپله راشين کيږی او د خپلو باغونو نه هغه انګور مۀ راټولوئ چې ځانګې يې قينچی
شوی نۀ وی، دا هغه کال دے چې زمکه به په کښې پوره آرام کوی. ۶ کۀ په هغه کال
کښې زمکه کَرلے شوې هم نۀ وی، خو د هغې نه به ستاسو دپاره، ستاسو نوکرانو،
مزدورانو او د مسافرو دپاره چې ستاسو سره اوسيږی، خوراک مِلاو شی، ۷ داسې
ستاسو څاروو دپاره او ستاسو په پټو کښې د ځنګلی ځناورو دپاره هم. زمکه چې هر څۀ
راشنۀ کړی نو هغه خوړلے شی.

## د واپس ورکولو کال

۸ اووۀ ځلې اووۀ کالونه وشمېرئ چې يو کم پنځوس کاله جوړيږی. ۹ نو د اوومې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

میاشتې په لسمه ورځ یعنې د کفارې په ورځ به په ټول مُلک کښې بیګل وغږولے شی.
۱۰ نو تاسو پنځوسم کال خاص وګڼئ او د مُلک ټولو خلقو ته د آزادئ اِعلان وکړئ. په
دې کال هغه هر څۀ هم چې خرڅ شوی وی نو هغه به اصلی مالِک یا د هغۀ اولاد ته
واپس ملاویږی او هر څوک چې د غلام په توګه خرڅ شوے وی نو هغه به خپل خاندان
ته واپس شی. ۱۱ تاسو به خپل پټی نۀ کَرئ نۀ به هغه فصل رېبئ چې په خپله راشین
شوے وی او نۀ به په باغونو کښې هغه انګور راټولوئ چې څانګې یې پرې کړے شوې نۀ
وی. ۱۲ هغه ټول کال به ستاسو دپاره مقدس وی، تاسو به صِرف هغه څۀ خورئ چې
پټو په خپله راشنۀ کړی وی. ۱۳ په دې کال هغه هر څۀ چې خرڅ شوی وی نو هغه به
واپس خپل اصلی مالِک ته مِلاو شی. ۱۴ کله چې تاسو په خپل وطندار ورور باندې
زمکه خرڅوئ یا یې ترې نه اخلئ، نو یو بل له دوکه مۀ ورکوئ. ۱۵ قیمت به یې د
کالونو د شمېر په مطابق مقررولے شی چې په هغه زمکه کښې د واپس ورکولو کال نه
مخکښې څومره فصل کیږی. ۱۶ کۀ چرې پاتې شوی کالونه ډېر وی، نو قیمت به یې
اوچت وی، خو کۀ صِرف یو څو کالونه پاتې وی، نو قیمت به یې کم وی، ځکه چې څۀ
هم خرڅیږی نو هغه د فصلونو د هغه شمېر په مطابق به وی چې په هغه زمکه کښې پېدا
کیږی. ۱۷ خپل اِسرائیلیان مۀ دوکه کوئ، خو د مالِک خُدائ ستاسو د خُدائ پاک نه
یرېږئ. ځکه چې زۀ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک یم.

## د اوؤم کال دپاره د خُدائ پاک د خوراک بندوبست کول

۱۸ د مالِک خُدائ ټول قانون او حُکمونه منئ، نو تاسو به هغه مُلک کښې په امن سره
اوسیږئ. ۱۹ هغه زمکه به فصلونه پېدا کوی او د خوراک هغه هر څۀ به درته ملاویږی
چې تاسو یې غواړئ او په امن کښې به ژوند تېروئ. ۲۰ خو کېدے شی چې ستاسو نه
یو کس تپوس وکړی چې پټی ونۀ کَرلے شی او فصلونه راغونډ نۀ شی نو په اوؤم کال به
څۀ خورو. ۲۱ مالِک خُدائ به په شپږم کال هغه زمکې له برکت ورکړی نو هغه زمکه
به د دوه کالونو دپاره بسۀ ډېر خوراک پېدا کړی. ۲۲ کله چې تاسو په اتم کال خپل پټی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کَرئ، نو چې په شپږم کال تاسو څۀ رېبلی وی هغه به تر اوسه پورې خورئ او په نهم
کال به هم تاسو هغه څۀ خورئ کوم چې تاسو په اتم کال کَرئ او رېبئ.

## د جائيداد واپس ورکول

٢٣ تاسو خپله زمکه د همېشه دپاره مۀ خرڅوئ، ځکه چې زمکه ستاسو نۀ ده، د خُدائ
پاک ده او تاسو د مسافرو په شان يئ چا ته چې دا اجازت وی چې صِرف ګټه ترې نه
واخلی. ٢٤ کله چې زمکه خرڅيږی، نو د دې د اصلی مالِک د واپس اخستلو حق به
خامخا منلے شی. ٢٥ کۀ يو اِسرائيلے غريب شی او زمکې خرڅولو ته مجبور شی، نو
د هغۀ د ټولو نه نزدې خپلوان به زمکه واپس اخلی. ٢٦ کۀ د چا خپلوان نۀ وی چې دا
واپس واخلی نو کېدے شی وروستو مالدار شی او ډېرې پيسې ولری چې دا واپس
واخلی. ٢٧ نو په داسې حال کښې به خامخا هغه سړی له قيمت ورکوی چا چې
اخستې وی، دا قيمت به د واپس ورکولو کال پورې د پاتې کالونو دپاره وی، تر هغې
پورې چې هغۀ ته خپله زمکه واپس شی. ٢٨ خو کۀ د هغۀ سره ډېرې پيسې نۀ وی چې
زمکه واپس واخلی نو دا به د واپس اخستلو نه وروستو کال پورې د هغه سړی په قبضه
کښې وی. په هغه کال دې دا خپل اصلی مالِک ته واپس شی. ٢٩ کۀ څوک په يو دېوال
لرونکی ښار کښې کور خرڅ کړی، نو هغه د دې د خرڅېدو د تاريخ نه واخله په هغه
وړومبی ټول کال د واپس اخستلو حق لری. ٣٠ خو کۀ هغه يې په يو کال کښې واپس
وانۀ خلی نو د واپس اخستلو حق د هغۀ د لاس نه لاړ شی او هغه کور به د اخستونکی او
د هغۀ د اولاد د همېشه دپاره وی، دا به د واپس اخستلو په کال نۀ واپس کيږی. ٣١ خو
چې کوم کورونه په بې‌دېواله کلو کښې دی نو په هغوئ به د پټو په شان کار کيږی، د دې
اصلی مالِک دا حق لری چې دا واپس واخلی او دا به د واپس اخستلو په کال کښې
واپس شی. ٣٢ خو، ليويان هر وخت دا حق لری چې په ښارونو کښې خپل هغه
جائيداد واپس واخلی چې هغوئ ته حواله شوے وی. ٣٣ کۀ چرې يو ليوے په ښارونو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښې يو کور خرڅ کړی او واپس وانۀ خستلے شی، نو د واپس کولو په کال کښې به دا
خامخا واپس شی، ځکه چې د ليويانو په خپلو ښارونو کښې چې کوم کورونه دی دا د
اِسرائيلو په مينځ کښې د هغوئ ذاتی جائيداد دے. ۳۴ خو د ليويانو د ښارونو نه
ګېرچاپېره مېدان به هيڅکله نۀ خرڅيږی، دا د هميشه دپاره د هغوئ دے.

## غريبانانو خلقو له قرض ورکول

۳۵ کۀ ستاسو سره يو نزدې اوسېدونکے بنی اِسرائيلے دومره غريب شی چې خپل
ځان نۀ شی ساتلے، نو تاسو خامخا د هغۀ مدد کوئ لکه څنګه چې تاسو د پردی مُلک
کس سره مدد کوئ، نو چې هغه ستاسو سره نزدې پاتې شی. ۳۶ د هغوئ نه هيڅ سود
مۀ اخلئ، د خُدائ پاک نه يرېږئ او خپل اِسرائيلے هم هغه شان ځان سره نزدې
اوسېدو ته پرېږدئ. ۳۷ تاسو چې کومې پېسې هغوئ له قرض ورکړئ نو د هغې سود
ترې نه مۀ اخلئ او چې کوم خوراک وربانديې خرڅ کړئ د هغې ګټه ترې نه مۀ اخلئ.
۳۸ دا د مالِک خُدائ ستاسو د خُدائ پاک حُکم دے، چا چې تاسو د مِصر د مُلک نه
راوويستلئ چې د کنعان زمکه تاسو له درکړی چې د ستاسو خُدائ پاک وی.

## د نوکرانو آزادول

۳۹ کۀ ستاسو سره يو نزدې اوسېدونکے اِسرائيلے دومره غريب شی چې هغه خپل
ځان په تاسو بانديې د يو غلام په توګه خرڅ کړی، نو د هغۀ نه به د يو غلام کار نۀ اخلئ.
۴۰ هغه به ستاسو سره د يو مزدور په شان وی او د واپس ورکولو تر کال پورې به
ستاسو خِدمت کوی. ۴۱ په هغه وخت به هغه او د هغۀ بچی ستاسو نه لاړ شی او خپل
خاندان او د خپل پلار نيکۀ جائيداد ته به راستُون شی. ۴۲ اِسرائيليان د مالِک خُدائ
غلامان دی او هغوئ يې د مِصر مُلک نه راوويستل، هغوئ دې د نوکرانو په توګه نۀ
خرڅيږی. ۴۳ د هغوئ سره ظلم مۀ کوئ خو د خُدائ پاک نه يرېږئ. ۴۴ کۀ تاسو ته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د نوکرانو ضرورت وی، نو د خواوشا قومونو نه غلامان اخستلے شئ. ۴۵ تاسو د هغه
مسافرو اولاد هم اخستلے شئ کوم چې ستاسو سره اوسيږی. کوم چې ستاسو په مُلک
کښې پيدا شوی وی نو هغه به ستاسو ميراث شی، ۴۶ او هغوئ خپلو بچو ته د ميراث
په توګه پريښودلے شئ، ترڅو چې هغوئ ژوندی وی نو ستاسو د بچو خِدمت به کوی.
خو چې تاسو د خپل وطندار ورور سره ظلم ونۀ کړئ. ۴۷ فرض کړئ يو مسافر چې
ستاسو سره اوسيږی او هغه مالدار شی، خو کۀ ستاسو خپل وطندار ورور غريب شی
او خپل ځان په هغه مسافر يا د هغۀ د قبيلې په يو کس باندې خرڅ کړی. ۴۸ د هغۀ د
خرڅيدو نه پس، هغه بيا هم دا حق لری چې واپس واخستلے شی. د هغۀ يو ورور ۴۹
يا د هغۀ ترۀ، د ترۀ زوئ يا د هغۀ بل يو نزدې خپلوان هغه واپس اخستلے شی. يا کۀ هغه
په خپله مالداره شی، نو هغه خپله آزادی په خپله اخستلے شی. ۵۰ چا چې هغه
اخستے وی د هغۀ سره به خامخا مشوره کوی او هغوئ به د خرڅيدو د وخت نه واخله
د واپس اخستلو نه وروستو کال پورې کالونه وشميری او چې کومې پيسې يو مزدور ته
ورکولے کيږی د هغې په بنياد به د هغۀ د خلاصيدو قيمت مقرر شی. ۵۱-۵۲ د پاتې
شوو کالونو د شمير په مطابق به هغه خامخا د خرڅيدو د قيمت يوه حِصه ورکوی، ۵۳
لکه چې هغه د کال په بنياد باندې مزدور کړے شوے وو. د هغۀ مالِک به د هغۀ سره
ظلم نۀ کوی. ۵۴ کۀ هغه په داسې څۀ طريقه آزاد نۀ کړے شی، نو هغه او د هغۀ بچی به
د واپس ورکولو د کال نه پس په بل کال خامخا آزاد کړے شی. ۵۵ يو اِسرائيلے به
هميشه دپاره غلام نۀ وی، ځکه اِسرائيليان د مالِک خُدائ غلامان دی. هغۀ هغوئ د
مِصر مُلک نه راوويستل، هغه مالِک خُدائ د هغوئ خُدائ پاک دے.“

## د فرمانبردارۍ دپاره برکتونه

۲۶ ۱ مالِک خُدائ وفرمائيل، ”بُتان، مجسمې، د کاڼو ستنې، يا داسې کاڼی مۀ
جوړَوئ چې تاسو ورته سجده وکړئ. زۀ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يم. ۲ زما د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سبت ورځ منئ او د هغه ځائ درناوے کوئ چرته چې زما عبادت کيږی. زهٔ مالِک
خُدائ يم. ۳ کهٔ تاسو زما د قانون په مطابق ژوند تيروئ او زما حُکمونو ته غاړه
کيږدئ، ۴ نو زهٔ به په صحيح وخت باران وروم، هغه زمکه به فصلونه پيدا کړی او
ونې به ميوې ونيسی. ۵ ستاسو فصلونه به دومره ډير وی چې د انګورو د راټولولو
وخت پورې به تاسو غوبل کوئ او تر هغه پورې به انګور راټولوئ چې د غلې کَرلو وخت
راورسيږی. د خوراک دپاره تاسو ته به هغه هر څهٔ ملاويږی چې تاسو يې غواړئ او په
خپل مُلک کښې به تاسو په امن ژوند کوئ. ۶ زهٔ به تاسو له ستاسو په مُلک کښې
آرام درکړم او تاسو به بغير د يرې نه خوب کوئ. زهٔ به د هغه مُلک خطرناک ځناور
لرې کړم او هلته به نور جنګ نهٔ وی. ۷ تاسو به په خپلو دشمنانو بريالی شئ او تاسو
به هغوئ په جنګ کښې ووژنئ، ۸ ستاسو پينځهٔ کسان به سلو له شکست ورکړی او
سل کسان به لسو زرو له شکست ورکړی. ستاسو دشمنان به په جګړه کښې شکست
وخوری. ۹ زهٔ به په تاسو نظر وکړم او ډير اولاد به درکړم، زهٔ به هغه لوظ پوره کړم
چې ما ستاسو سره کړے دے. ۱۰ تاسو سره به دومره ډيره غله وی چې تاسو به هغه
زَړه غله د دې دپاره وغورزوئ چې د نوی فصل دپاره ځائ پيدا شی. ۱۱ زهٔ به ستاسو
په مينځ کښې زما په مقدسه خيمه کښې اوسيږم او زهٔ به ستاسو نه کله هم نفرت ونهٔ
کړم. ۱۲ زهٔ به ستاسو مل يم، زهٔ به ستاسو خُدائ پاک يم او تاسو به زما خلق يئ. ۱۳
زهٔ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يم، چا چې تاسو د مِصر د مُلک نه راوويستلئ چې
د غلامئ نه آزاد شئ. ما هغه طاقت ختم کړو چې تاسو يې تيټ کړی وئ او د دې جوګه
مې کړئ چې په اوچتو سترګو ګرځئ.“

## د سرکشئ سزا

۱۴ مالِک خُدائ وفرمائيل، ”کهٔ تاسو زما حُکمونه ونهٔ منل، نو تاسو ته به سزا مِلاو
شی. ۱۵ کهٔ تاسو زما د حُکمونو منلو نه اِنکار وکړئ او زما د حُکمونو نه کرکه وکړئ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او زما لوظ مات کړئ، ۱۶ نو زۀ به تاسو له سزا درکړم. زۀ به په تاسو افتونه راولم
يعني لا علاجه بيمارئ او تبې چې تاسو به ړاندۀ کړی او ستاسو ژوند به لنډ تنګ کړم.
تاسو به تخم وکَرئ، خو هيڅ ګټه به درنۀ کړی، ځکه چې ستاسو دشمنان به په تاسو
غالِب شی او چې تاسو څۀ کَرلی وی نو هغوئ به يې وخوری. ۱۷ زۀ به ستاسو نه مخ
واړوم، نو تاسو به شکست وخورئ او هغه خلق چې ستاسو نه نفرت کوی هغوئ به په
تاسو حکومت وکړی، تاسو به دومره يريږئ چې څوک درپسې نۀ وی بيا به هم منډې
وهئ. ۱۸ کۀ د دې هر څۀ نه پس بيا هم ما ته غوږ ونۀ نيسئ، نو ستاسو د نافرمانئ په
وجه زۀ به ستاسو سزا اووۀ چنده زياته کړم. ۱۹ زۀ به ستاسو غرور مات کړم، باران
به نۀ وريږی او ستاسو زمکه به اوچه شی او د کانړی په شان به سخته شی. ۲۰ ستاسو
ټول محنت به تاسو له هيڅ فائده درنۀ کړی، ځکه چې ستاسو زمکه به فصلونه نۀ کوی
او ستاسو ونې به مېوه نۀ نيسی. ۲۱ کۀ تاسو بيا هم زما مخالفت کوئ او زما د منلو نه
اِنکار کوئ، نو زۀ به ستاسو سزا اووۀ چنده زياته کړم. ۲۲ زۀ به ستاسو مينځ ته
خطرناک ځناور درولېږم او دا به ستاسو ماشومان ووژنی، ستاسو څاروی به تباه کړی
او ستاسو شمېر به دومره کم کړم چې سړکونه به مو خوشی پاتې شی. ۲۳ کۀ د دې هر
څۀ نه پس هم زما خبرې ته غوږ ونۀ نيسئ او بيا هم زما مخالفت کوئ، ۲۴ نو زۀ به هم
ستاسو خِلاف شم او زۀ به تاسو له د مخکښې نه اووۀ چنده زياته سزا درکړم. ۲۵ زۀ به
په تاسو يو جنګ راولم، زما د لوظ د ماتولو سزا به درکړم او کۀ تاسو په خپلو ښارونو
کښې د امن دپاره راغونډ شئ، نو زۀ به په تاسو لا علاجه بيمارئ راولېږم او تاسو به زۀ
ستاسو دشمنانو ته حواله کړم نو هغوئ به په تاسو حکومت وکړی. ۲۶ زۀ به په تاسو
خوراک بند کړم، نو د لسو کورَنو اوړۀ به يو ښانک کښې يو ځائ تيارولے شی. هغوئ
سره به خوراک ختم شی او چې کله تاسو هر څۀ وخورئ، نو بيا به هم اوږی يئ. ۲۷
کۀ د دې هر څۀ نه پس هم زما خبرې ته غوږ ونۀ نيسئ او زما د منلو نه اِنکار وکړئ،
۲۸ نو زما قهر به ستاسو خِلاف شی او بيا به زۀ ستاسو سزا د مخکښې نه اووۀ چنده
زياته کړم. ۲۹ ستاسو لوږه به دومره زياته شی چې خپل بچی به وخورئ. ۳۰ زۀ به

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستاسو علاقائی عبادتخانې تباه کړم، ستاسو د خوشبویۍ قربانګاه به ختمه کړم او
ستاسو مړی به د ستاسو په بې‌ساه بُتانو باندې وروغورزوم. زۀ به ستاسو نه نفرت
وکړم. ۳۱ زۀ به ستاسو د ښارونو نه کنډرې جوړې کړم، ستاسو د عبادت ځایونه به
تباه کړم او ستاسو قربانۍ به قبولې نۀ کړم. ۳۲ زۀ به ستاسو مُلک داسې تباه کړم چې
کوم دشمنان دا مُلک ونیسی نو هغوئ به په دې تباهۍ باندې غمژن شی. ۳۳ زۀ به په
تاسو جنګ راولم او په پردو مُلکونو کښې به مو خوارۀ وارۀ کړم. ستاسو مُلک به
خوشې پاتې شی او ستاسو ښارونه به وران ویجاړ شی. ۳۴-۳۵ نو تاسو چې کله خپله
زمکې ته د اوۀم کال د آرام ورکولو موقع ور نۀ کړه چې آرام وکړی نو تر څو پورې چې
تاسو د دشمن په مُلک کښې جلاوطن يې نو دا به داسې پرته وی او ښۀ آرام به وکړی.
۳۶ ستاسو کوم کسان چې د دشمن په مُلک کښې وی هغوئ به دومره ویروم چې د
هوا په وجه د پاڼې د معمولی کش نه به هم تښتی. تاسو به داسې منډې وهئ لکه څوک
چې په جنګ کښې په تاسو پسې وی او ستاسو سره به نزدې هیڅ دشمن نۀ وی خو تاسو
به بیا هم غورزیږئ. ۳۷ کله چې هیڅ څوک هم په تاسو پسې نۀ وی نو تاسو به په يو بل
باندې غورزیږئ او تاسو به د دې جوګه نۀ يئ چې د دشمن په مخکښې ودریږئ. ۳۸
ستاسو د دشمنانو مُلک به تاسو ژوندی تیر کړی، تاسو به پردی مُلک کښې مړۀ شئ.
۳۹ ستاسو کوم کسان چې ستاسو د دشمنانو په مُلک کښې ژوندی پاتې وی هغوئ به
خراب‌تُراب شی، ستاسو خپلې ګناه او ستاسو د پلار نیکۀ د ګناه په وجه به داسې وشی.

## د راتلونکی وخت دپاره اُمید

۴۰ خو ستاسو اولاد به د خپلو ګناهونو او د هغوئ د پلار نیکۀ د ګناهونو اِقرار وکړی،
چې هغوئ زما سره بې‌وفائی کړې ده او زما خِلاف يې سرکشی کړې ده، ۴۱ او زۀ يې د
خپل ځان خِلاف کړم او چې هغوئ د دشمنانو مُلک ته ولیږم. کۀ بیا ستاسو د اولاد
سخت زړونه نرم شی او د خپلې ګناه او سرکشۍ سزا ورته مِلاو شی، ۴۲ نو زۀ به د
یعقوب، اِسحاق او اِبراهیم سره خپل کړے لوظ رایاد کړم او زۀ به خپل هغه لوظ بیا تازه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړم چې خپلو خلقو له هغه مُلک ورکړم. ۴۳ اول خو به هغه مُلک خامخا د هغې د
خلقو نه خالی کيږی، چې دا د پوره آرام نه ښهٔ خوند واخلی او هغوئ ته به زما د قانون
او حُکمونو نهٔ منلو په وجه پوره سزا مِلاو شی. ۴۴ خو بيا هم، چې هغوئ لا د خپلو
دشمنانو په مُلک کښې وی، نو زهٔ به يې نهٔ رد کوم، نهٔ به ترې نفرت کوم او نهٔ به يې
بيخی تباه کوم. هسې نه چې د هغوئ سره زما لوظ مات شی، زهٔ مالِک خُدائ د هغوئ
خُدائ پاک يم. ۴۵ زهٔ به هغه لوظ بيا تازه کړم چې ما د هغوئ د پلار نيکهٔ سره کړے
وو کله چې ما ټولو قومونو ته خپل طاقت وښودلو چې خپل خلق مې د مِصر مُلک نه
راوويستل، چې زهٔ مالِک خُدائ، د هغوئ خُدائ پاک اوسم.“ ۴۶ دا ټول هغه قانون او
حُکمونه دی چې مالِک خُدائ موسىٰ له د سينا په غرهٔ باندې د بنی اِسرائيلو دپاره
ورکړل.

## د مالِک خُدائ د تُحفو په حقله قانون

۲۷ ۱ بيا مالِک خُدائ موسىٰ ته وفرمائيل چې، ۲ ”بنی اِسرائيلو ته دا اصُول
وښايه. کله چې د يو خاص منښتې په پوره کېدو کښې يو کس مالِک خُدائ ته وقف
کيږی، نو هغه به د دې قيمت په ورکولو سره آزاد کړے شی، ۳-۷ کوم چې د منلے
شوی معيار په مطابق وی يعنې بالغ نارينه چې عُمر يې د شلو کالو نه تر شپېتو کالو
پورې وی، پنځوس د سپينو زرو سيکې. بالغه ښځه، دېرش د سپينو زرو سيکې. نارينه
ځوان، چې عُمر يې د پينځو نه واخله تر شلو کالو پورې وی، شل د سپينو زرو سيکې.
ځوانه ښځه، لس د سپينو زرو سيکې. ماشوم چې عُمر يې د پينځو کالو نه کم وی، پينځهٔ
د سپينو زرو سيکې. ماشومه، درې د سپينو زرو سيکې. هغه نارينه چې عُمر يې د شپېتو
کالو نه زيات وی، پينځلس د سپينو زرو سيکې. هغه ښځه چې عُمر يې د شپېتو کالو نه
زيات وی، لس د سپينو زرو سيکې. ۸ کهٔ يو کس منښته منلې وی او ډېر غريب وی
چې هغه معياری قيمت نهٔ شی ورکولے، نو هغه کس دې اِمام له راولی او اِمام به کم

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قیمت مقرر کړی، چې د هغه کس د وس په مطابق وی. ۹ کهٔ هغه منښته د یو ځناور
وی چې مالِک خُدائ ته د یوې نذرانې په توګه د قبلېدو قابل وی، نو داسې تُحفه چې
مالِک خُدائ ته پېش کېږی هغه مقدسه ده، ۱۰ او کهٔ یو کس منښته ومنی نو هغه ځناور
په بل ځناور نهٔ شی بدلېدلے. کهٔ چرې هغه بدل کړی، نو داوړه ځناور به د مالِک خُدائ
وی. ۱۱ خو کهٔ هغه ځناور حرام وی، کوم چې مالِک خُدائ ته د نذرانې په توګه د
قبلېدو قابل نهٔ وی، نو هغه کس به هغه ځناور اِمام له بوځی. ۱۲ اِمام به د دې ښهٔوالی
او بدوالی په مطابق قیمت مقرر کړی او دا به آخری قیمت وی. ۱۳ کهٔ هغه کس دا
واپس اخستل غواړی، نو هغه به د دې قیمت سره شل فیصده سېوا ورکړی. ۱۴ کله
چې یو کس خپل کور مالِک خُدائ ته وقف کوی، نو اِمام به د دې د ښهٔوالی یا بدوالی په
مطابق د دې قیمت مقرر کړی او دا به آخری قیمت وی. ۱۵ کهٔ هغه کس چا چې دا
کور وقف کړے وی او دا واپس اخستل غواړی، نو هغه به خامخا د دې قیمت سره شل
فیصده زیات ورکړی. ۱۶ کهٔ څوک د خپلې زمکې څهٔ حِصه مالِک خُدائ ته وقف
کوی، نو د دې قیمت به د هغه تخم په مطابق مقررولے شی چې څومره په کښې کَرل په
کار وی، دا قیمت به د سپینو زرو لس سیکې د شلو کلو اوربشو دپاره وی. ۱۷ کهٔ هغه
کس دا زمکه د واپس اخستلو کال باندې وقف کړی، نو د دې زمکې قیمت به پوره
ورکولے شی. ۱۸ خو کهٔ چرې هغه کس خپله زمکه د دې نه وروستو وقف کړی، اِمام
به د هغې بیعه د هغه کالونو د شمېر په مطابق حساب کړی چې د واپس اخستلو تر
راتلونکی کال پورې پاتې وی او د کالونو د کمی په وجه به کمه بیعه مقرر کړی. ۱۹ چا
چې دا زمکه وقف کړې وی کهٔ هغه کس دا واپس اخستل وغواړی، نو هغه به خامخا د
دې قیمت سره شل فیصده زیات ورکوی. ۲۰ کهٔ هغه کس دا زمکه د مالِک خُدائ نه
واپس اخستلو نه مخکښې په بل چا باندې خرڅه کړی، نو د هغهٔ حق نهٔ جوړېږی چې دا
واپس واخلی. ۲۱ د واپس اخستلو پسې کال به هغه پټے د همېشه دپاره د مالِک خُدائ
شی، دا به د اِمامانو وی. ۲۲ کهٔ څوک مالِک خُدائ ته یو پټے وقف کوی چې هغهٔ
اخستے وی، ۲۳ اِمام به د واپس اخستلو پسې کال پورې د کالونو د شمېر په مطابق د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دې د قيمت اندازه ولګوی او هغه کس به خامخا هم په هغه ورځ د دې قيمت ورکړی، دا
پېسې به د مالِک خُدائ شی. ۲۴ د واپس اخستلو په کال به دا پټے واپس د دې اصلی
مالِک يا د هغهٔ اولاد ته ملاويږی. ۲۵ ټول قيمتونه به د منلے شوی معيار په مطابق
مقررولے شی. ۲۶ په څناورو کښې د ټولو نه وړومبی پيدا شوی بچی د مالِک خُدائ
وی، نو هيڅ څوک دا هغهٔ ته د يوې رضاکارانه نذرانې په توګه نهٔ شی پېش کولے. يو
سخے، ګډُورے يا يو د چېلۍ بچے دا د مالِک خُدائ وی، ۲۷ خو وړومبے پېدا شوے
يو حرام څناور د معياری قيمت سره شل فيصده زيات ورکولو باندې واپس اخستلے
شی. کهٔ دا واپس وانهٔ خستلے شی، نو دا دې په چا باندې په معياری قيمت خرڅ کړے
شی. ۲۸ کوم څيز چې مالِک خُدائ ته بغير د څهٔ شرط نه وقف شوے وی، نو هيڅ
څوک به دا نهٔ خرڅولے شی او نهٔ به يې واپس اخستلے شی، کهٔ هغه بنی آدم، څناور، يا
زمکه وی، دا به د هميشه دپاره د مالِک خُدائ وی. ۲۹ کهٔ په چا باندې د مرګ فيصله
شوې وی نو هغه به خامخا وژلے شی او واپس به نهٔ شی اخستلے. ۳۰ د زمکې د ټول
پيداوار لسمه حِصه د مالِک خُدائ ده، کهٔ هغه غله وی يا مېوه وی. ۳۱ کهٔ يو کس دا
واپس اخستل غواړی، نو هغه به خامخا د منلے شوی قيمت سره شل فيصده زيات
ورکوی. ۳۲ هر يو لسم خاروے د مالِک خُدائ دے. کله چې څناور شمېرلے شی، نو
هر يو لسم به د مالِک خُدائ وی. ۳۳ مالِک دې څناورو له داسې ترتيب نهٔ ورکوی چې
خراب څناور ترې خوښ کړے شی او بدلولے رابدلولے يې هم نهٔ شی. کهٔ هغهٔ يو
څناور په بل څناور بدل کړو، نو بيا به دواړه د مالِک خُدائ وی او واپس به نهٔ شی
اخستلے.“ ۳۴ دا هغه حُکمونه دی چې مالِک خُدائ موسیٰ له د سينا په غرهٔ باندې د
بنی اِسرائيلو دپاره ورکړل.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.6699
pashtobibles.org © يوسفزی ۲۰۱۹
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.